# افغانستان

## په وسله واله شخړه کې د ملکیانو ساتنه

### ځانګړی راپور

د نشه يي توکو د پروسس پر ادعا شویو تاسیساتو هوايي بریدونه
فراه، د ۲۰۱۹ کال د مې د میاشتې پنځمه




د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوی

د بشري حقونو لپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر



د ۲۰۱۹ کال اکتوبر
کابل، افغانستان

دغه راپور او په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې ټول راپورونه چې دلته یې یادونه شوې د یوناما په ویب سایټ د لاسرسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

د لومړي مخ پر پوښ انځور: انځور د ۲۰۱۹ کال د مې د میاشتې په پنځمه د فراه ولایت په بکواه ولسوالۍ کې د ترسره شویو هوایي بریدونو په اړه د یوه شاهد په واسطه یوناما ته برابر شوی.

محتویات

میتودولوژي ........................................................................................................................... ۳
شالید ....................................................................................................................................... ۴
د نشه یي توکو په لابراتوارونو بریدونه ........................................................................................ ۴
په افغانستان کې د میتامفیتامینو تولید ......................................................................................... ۷
**په افغانستان کې د ناقانونه نشه يي توکو پر وړاندې د قانون د تنفیذ کونکو ادارو اقدامات** ........................... ۸
موندنې ..................................................................................................................................... ۹
ابتدايي معلومات ......................................................................................................................... ۹
د حقیقت موندني ماموریت او تعقیبي چارې .................................................................................... ۱۰
حقوقي چوکاټ ........................................................................................................................... ۱۲
د هوايي بریدونو قانونیت چې موخه یې د نشه یي توکو د لابراتوارونو په نښه کول دي ................................... ۱۳
د هوايي بریدونو قانونیت چې موخه یې د هغو کسانو چې د نشه یي توکو په لابراتوارونو کې کار کوي ................. ۱۴
پایله ....................................................................................................................................... ۱۵
سپارښتنې ................................................................................................................................ ۱۷
لومړی ضمیمه: د عمومي سیمې نقشه چې د هوايي بریدونو په پایله کې متاثره شوې .................................... ۱۸

## لنډيز

دا راپور، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما)[1] او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر (OHCHR)،[2] له خوا په ګډه خپور شوی، د هغه ملکي زيان کچه ارزوي چې د ۲۰۱۹ کال د مۍ په پنځمه په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ميشتو ځواکونو له خوا (USFOR-A)[3] د فراه ولايت په بکوا ولسوالۍ او د نيمروز ولايت د دلارام د سرحدي ولسوالۍ په يو شمير برخو کې د مخدره توکو په ادعا شويو کارخانو د ترسره شويو هوايي بريدونو په پايله کې را منځ ته شوی. دا راپور جوتوي چې د مخدره توکو کارخانې او په هغو پورې اړوند کارګران نه شي کيداي د هغوي د ممکنه اقتصادي او مالي مرستو په خاطر د شخړې د يوې ډلې د جګړه ييزو هڅو په تړاو په قانوني ډول د بريد هدف وګرزول شي.

د ۲۰۱۹ کال د مۍ په ۵، په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشت ځواکونو يو شمير هوايي بريدونه ترسره کړل چې په نتيجه کې يې د ۶۰ څخه زيات ځايونه چې دوی د مخدره توکو د توليد د کارخانو" د مخدره توکو د لابراتوارونو[4]"په حيث پيژندلي و، د فراه ولايت د بکوا په ولسوالۍ او د نيمروز ولايت د دلارام د سرحدي ولسوالۍ په يو شمير برخو کې په نښه کړل. د پام وړ ملکي زيان د پيښيدو په اړه ، د پيښې ژر وروسته اعتباري ادعاوې را برسيره شوې. که څه هم چې له دې وړاندې د راپور شويو مخدره توکو په لابراتوارونو هوايي بريدونه ترسره شوې، خو دا لومړی ځل دی چې يوناما د داسې عملياتو په پايله کې د زياتو ملکي تلفاتو په اړه راپورونه ترلاسه کړي.

يوناما د څلورو مياشتو په جريان کې د بکوا په ولسوالۍ کې د مۍ د ۵ نيټې د پيښې په اړه د حقيقت معلومولو پراخې موندنې ترسره کړې. له څو اونيو احتياطي چمتووالي وروسته، د جون په ۲۶، يوناما د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون سره په ګډه د بکوا د ولسوالۍ د پيښې په تړاو چې د طالبانو تر ولکې لاندې ده د حقيقت موندنې يو ماموريت ترسره کړ. د موقعيت د لرې والي او په سيمه کې د ملګرو ملتونو د دايمي شتون او حکومت يا پوځي حضور، د نه شتون په نظر کې نيولو سره، يوناما د حقايقو د موندلو د پروسې لپاره دغه ماموريت د پام وړ بولي. پلاوي د انفرادي اشخاصو سره کوم چې د هوايي بريدونو په نتيجه کې متاثره شوې مخامخ مرکې ترسره کړې او د ځينو متاثره شويو سيمو څخه يې هم ليدنه کړې. د افغانستان حکومت، طالبانو ، او د ناټو غوڅ ملاتړ ماموريت ټولو دې ماموريت ته د ملاتړ بيلابيلې وسيلې چمتو کړې.

د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر تر ۱۵ پورې، د مۍ د ۵ نيټې د هوايي بريدنو له امله، د ۱۴ ماشومانو او يوې ښځې په ګډون، يوناما ټولټال ۳۹ ملکي تلفات (۳۰ وژل شوي او ۵ ژوبل او ۴ ناڅرګند[5]) تصديق کړې. د تاييد شويو ملکي تلفاتو له جملې څخه، يوناما څرګنده کړې چې د هغو له جملې ۱۷ هغو يې په لابراتوار کې کار کاوه. يوناما د لږ تر لږه ۳۷ اضافي ملکي تلفاتو (۳۰ وژل شويو او ۷ ژوبلو) د تثبيت لپاره معتبر او باوري معلومات ترلاسه کړی ، چې ډيری يې ميرمنې او ماشومان وو. د ملکي تلفاتو د لا تصديق لپاره پلاوی په دې اړه نور کار هم کوي.[6]

---

[1] د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) پريکړه ليک لاندې د يوناما د ماموريت په تعقيب، دا راپور د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی تر څو " د ملکيانو نظارت وکړي، د هغوي د ساتنې لپاره هڅې همغږي کړي، [...] حساب ورکونه ترويج کړي، [...] او د بنسټيزو ازاديو د بشپړ تطبيق او د اساسي قانون او نړيوالو تړونونو د بشري حقونو د احکامو کوم چې افغانستان لاسليک کړي، په خاصه توګه هغه چې د ښځو او د هغوي د بشري حقونو څخه د بشپړ برخمن کيدو په اړه دي. (2019) S/RES/2489".

[2] د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر استازيتوب په افغانستان کې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا کيږي، او په ګډه د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړي استازي او د بشري حقونو لپاره عالي کميشنر ته راپور کيږي.

[3] په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ماموريت په اړه د شرح لپاره، د ملکيانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۸ کال کلنی راپور وګورئ، دوهمه ضميمه:په ۵۸ باندې د شخړې اصلي خواووې او دوهمه ضميمه: په ۶۳-۶۴ باندې موجود فهرست: په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports (تير ځل د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۲۸ ورته لاسرسی شوی).

[4] د مخدره توکو لابراتوارونه " د ختو څخه جوړو شويو ودانيو ته راجع کيږي چې په هغو کې ابتدايي وسايل لکه، بيرلونه، په لاس جوړ د فشار وسيلې، سطلونه او کاسې شاملې دي. " ډيوډ مانسفيلډ وګورئ ، د عايد څخه انکار يا د پيسو ضايع کول؟ په افغانستان کې "د مخدره توکو د لابراتوارونو" پر وړاندې د هوايي کمپاين د اغيزو ارزونه ، د لندن د اقتصاد پوهنځی، د مخدره توکو د نړيوالې پاليسي واحد (اپريل ۲۰۱۹)) مخ. ۲۳، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: www.lse.ac.uk/united-states/Assets/Documents/mansfield-april-update.pdf ، د ۲۰۱۹ کال د اپريل په ۲۱ په وروستي ځل ورته لاسرسی شوی.

[5] پداسې حال کې چې يوناما دا څلور ملکي تلفات تاييد کړي ، لاهم د دوی د اوسني وضعيت د ټپي کيدو يا وژل کيدو د په ګوته کولو په لټه کې دی ځکه چې د دوی د وضعيت په اړه معلومات په بيلابيلو پړاونو کې د سرچينو څخه ترلاسه شوي.

[6] يوناما تمه لري چې د عملياتو په پايله کې به د ملکي تلفاتو وروستي ارقام د دې پلاوي د ۲۰۱۹ کال د ملکي کسانود ساتنې په کلني راپور کې شامل شي ، چې تمه ده د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې خپاره شي. د نورو تفصيلي معلوماتو لپاره ، مهرباني وکړئ د موندنې برخه وګورئ.

په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشت ځواکونه يادونه کوي، چې د ميتامفيتامينو د توليد کوم لابراتوارونه چې د هوايي بريدونو په نتيجه کې په نښه شوې، د طالبانو وو او د هغوي تر کنټرول لاندې وو او په مستقيمه توګه د طالبانو د جګړه يېزو موخو د تمويل لپاره کاريدل.[7] د متحده ايالتونو د اوږدمهاله پاليسي په حواله، اقتصادي موخې چې د شخړې د ښکيلې ډلې د جګړې د هڅو سره مرسته کوي، مشروع پوځي موخې ګڼل کيږي.[8] په دې حواله، په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشتو پوځي ځواکونو څرګنده کړې چې "پراخه استخباراتي معلوماتو تصديق کړې چې په لابراتوارونو کې ټول موجود کسان طالبان وو." [9] د خپل دريځ په لا وړاندې کولو سره، په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشت پوځي ځواکونو دې ته اشاره وکړه چې دا په هر صورت په دې معنی نه ده چې دوی د عملياتو پر مهال جګړه يېزې دندې پر مخ وړې. په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشت پوځي ځواک ادعا کوي هغو کسانو چې د مخدره توکو په لابراتوارونو کې کار کاوه حتی که چيرې دوی په مستقيمه توګه په دښمنيو کې ښکيل هم نه وي مشروع پوځي موخې دي. په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشت پوځ ارزونه ترسره کړې چې د هوايي بريد په پايله کې ملکي تلفات نه دي اوښتي او همدارنګه د عملياتو پرمهال ښځو او ماشومانو ته مرګ ژوبله نه ده رسيدلې.[10]

دا په ښه توګه مستنده شوې خبره ده چې طالبان په افغانستان کې د مخدره توکو د صنعت څخه مالي ګټه پورته کوي. پدې قضيه کې د يوناما موندنې ښيي چې په بکوا ولسوالۍ کې د مخدره توکو د توليد کارخانې د طالبانو ملکيت نه وې او همداراز د هغوي تر کنټرول لاندې نه وو ، بلکه برعکس د جرمي ډلو لخوا چې د مخدره توکو د نړيوالو شبکو سره اړيکې لري، ملکيت او د هغوي تر ولکې لاندې وې. پداسې حال کې چې ښايي ځينې سايټونه د ناقانونه فعاليتونو سره تړاو ولري، خو د نړيوال قانون سره سم د مشروع نظامي اهدافو تعريف نه پوره کوي.[11] سربيره پردې ، يوناما باوري معلومات ترلاسه کړي چې د استوګنې د کورونو په شمول، چې ډيری کوم سايټونه په نښه شوي، د مخدره توکو د توليد د فعاليتونو سره تړاو نه لري.

د راټول شويو معلوماتو پر بنسټ، يوناما ارزونه ترسره کړې، هغو کسانو چې د مخدره توکو د توليد په لابراتوارونو کې کار کاوه، محاربوي فعاليتونه نه ترسره کول. دوی نو ځکه د بريد پر وړاندې خونديتوب مستحق دي ، او ممکن يوازې هغه وخت محافظت له لاسه ورکړي، که چيرې دوی په مستقيم ډول په جګړو کې برخه اخيستې وي؛[12] د مخدره توکو په ناقانونه فعاليتونو کې د هغوي ښکيلتيا د هغوي د مستقيم ګډون په معنی نه ده. سربيره پردې ، يوناما موندلي چې په داسې حال کې چې د هوايي بريدونو په نتيجه کې يو شمير وژل شويو او ټپي شويو ملکي وګړو د مخدره توکو د توليد په لابراتوارونو کې کار کاوه ، خو نورو، د ميرمنو او ماشومانو په ګډون د مخدره توکو د توليد په لابراتوارونو کې کار نه کاوه.
پداسې حال کې چې راپور په بشپړ ډول تاييدوي چې په افغانستان کې د مخدره توکو ناقانونه صنعت په هيواد او له هغه ور هاخوا سيمه کې ملکي وګړو ته لوی زيان رسوي ، نو دې پايلې ته رسيږي چې د مخدره توکو د ناقانونه فعاليت پر وړاندې مناسب او قانوني ځواب ويل د قانون د پلي کولو د مجرا ، نه د پوځي عملياتو د ترسره کولو له لارې شوني دي.

په همدې اساس يوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشتو ځواکونو څخه غوښتنه کوي چې:

[7] په افغانستا کې د متحده ايالتونو ځواکونه، "په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ماموريت (يوناما) ته ځواب، د طالبانو د ميتامفيتامينو د لبراتوارونو په اړه د متخده ايالتونو اعتراضونه"، د قاضي وکيل د کارکونکو د دفتر له خوا چمتو شوی، د ۲۰۱۹ کال د جولای ۱۵، د يوناما په دوسيه کې موجود دی.

[8] همدا ماخذ

[9] همدا ماخذ. د متحده آيالاتو د جګړې د لارښود د قاعي قانون پر اساس (جون ۲۰۱۵، د ۲۰۱۶ کال په ډسمبر کې تازه شوی)، " لکه دښمن د دولت د وسله والو ځواکونو د غړو په څير ، هغه اشخاص ځوک چې د غير دولتي وسله والې ډلې رسمي يا فعاليتي برخه وي او په جګړو کې ښکيل دي ممکن د بريد هدف وګرځي ځکه چې دوی هم په ورته ډول د خپلې ډلې دښمنانه نيت شريکوي (۳.۷.۵ برخه) وګورئ.

[10] د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۱۳ او د اګسټ په ۲۰ په افغانستان کې د متحده ايالتونو د پوځ سره د بريښناليک پواسطه اړيکې، د يوناما سره په دوسيه کې موجود دی. په لاندې ډول د موندنو برخه وګورئ.

[11] د يوناما په بشپړ راپور کې د حقوقي چوکاټ برخه وګورئ: د مخدره توکو د پروسس د ادعا شويو کارخانو په اړه هوايي بريدونه، فراه، د ۲۰۱۹ کال د مې ۵.

[12] د يوناما په بشپړ راپور کې د حقوقي چوکاټ برخه وګورئ: د مخدره توکو د پروسس د ادعا شويو کارخانو په اړه هوايي بريدونه، فراه، د ۲۰۱۹ کال د مې ۵.

- يوه خپلواکه او شفافه څېړنه ترسره کړئ تر څو د مۍ د ۵ نيټې په نتيجه کې په ملکيانو باندې د پېښې اغېزې معلومې کړي، او په عامه ډول موندنې او ترسره شوې اقدامونه خپاره کړي تر څو د قربانيانو او د هغوي د کورنيو د غږو لپاره د مناسبې خسارې د برابرولو په شمول حسابورکونه يقيني کړي.[13]
- د ټولو هوايي بريدونو او نورو پوځي عملياتو درول، کوم چې په افغانستان کې د مخدره توکو مرکزونه او اړوند کارګران په نښه کوي؛
- د شيانو او اشخاصو پر وړاندې کوم چې د "جګړې د دوام" د فعاليتونو سره تړاو لري د هدف نيولو په خپلو پاليسيو بياکتنه ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړي چې د نړيوال بشردوستانه قانون سره همغږي دي؛
- د مخدره توکو د ناقانونه فعاليتونو پر وړاندې د قانون د پلي کوونکو د څواب ويلو د موثريت د اعظمي وسيلو په حيث د قانون د پلي کوونکو افغان ادارو سره په مخدره توکو پورې د اړوندو تر مناسب کچې پورې جرمي استخباراتي معلوماتو د تبادلې پياوړي کول ؛ او
- د افغانستان د حکومت سره د کار کولو له لارې يقيني کړي چې د قانون پلي کونکو افغان ادارو ته کافي سرچينې ځانګړي شوې تر څو په لا موثره توګه د داسې عملياتو د ترسره کولو لپاره د هغوي وړتيا تقويه کړي.

## ميتودولوژي

دا راپور په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ميشتو ځواکونو له خوا په ملکيانو د هغو هوايي بريدونو کوم چې د ۲۰۱۹ کال د مۍ په پنځمه د نشه يي توکو پر وړاندې پر هغو ادعا شويو کارخونو چې د فراه ولايت په بکواه ولسوالي او د نيمروز ولايت په يو شمير سيمو کې موقعيت لري چې د دلارام د ولسوالۍ سره پوله لري، ترسره شوې، اغيزې بررسي کوي .

يوناما د څلورو مياشتو په ترڅ کې په بکوا ولسوالي کې د مۍ د پنځمې نېټې د پېښې په اړه پراخه حقيقت موندنه ترسره کړه. د قربانيانو او د هغوي د خپلوانو، د ټولنې د مشرانو، د روغتيا پالنې د متخصصينو، دولتي چارواکو او د افغان ملي امنيتي ځواکونو د غړو په شمول، يوناما په فراه او نيمروز ولايتونو کې د يو شمير زياتو سرچينو سره د تليفون له لارې او په شخصي ډول د اشخاصو سره تر ۵۰ زياتې مرکې ترسره کړې. د دې سربېره، يوناما د هيواد څخه د باندې له طالبانو سره خبرې اترې درلودې. د هغوي د حقوقي مشاورينو په شمول، يوناما په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ميشتو ځواکونو سره هم څو اړيخيزې ناستې درلودې.

د جون په ۲۶، يوناما او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د حقيقت موندنې يوه ټيم هغو سيمو ته ګډ ماموريت ترسره کړ چې د فراه ولايت په بکواه ولسوالي او د نيمروز ولايت په دلارا م ولسوالي کې دهوايي بريدونو له امله متاثره شوې. د موقعيت لرې والي او د ملګرو ملتونو دايمي نه شتون، په سيمه کې د دولتي او پوځي ساحوي شتون ته په کتو، يوناما په سيمه کې د حقايقو د موندلو د مسلې سره د مرستې په برخه کې ماموريت خورا مهم بولي.

د ماموريت پر مهال، يوناما وکولای شوای چې د انفرادي کسانو او د ټولنو د مشرانو سره کوم چې د هوايي بريدونو له امله متاثره شوي، ټولټال ۲۱ مخامخ مرکې ترسره کړې. په دې کسانو کې هغه کسان چا چې پخوا نه شوای کولای معلومات شريک کړي يا يې نه غوښتل معلومات ورکړي، هم شامل وو. په خاصه توګه، د هغو حساسيتونو له امله چې د ملکي تلفاتو د جزئياتو د څرګندولو او د نشه يي توکو د توليد د فعاليتونو سره تړاو لري.

د حقيقت موندنې ټيم د هغو قربانيانو فهرستونه کوم چې د ټولنې د مشرانو او روغتيا پالنې د متخصصينو له خوا برابر شوي وو او همدارنګه هغه ويډيو ګانې او انځورونه کوم چې د شاهدانو، قربانيانو او ځايي اوسيدونکو له خوا د مۍ په پنځمه د هوايي بريدونو ژر وروسته اخيستل شوي وو، را ټول کړل. د حقيقت موندنې ټيم د متاثره شويو يو شمير سيمو څخه ليدنه ترسره او هغه يې له نږدې وليدلې.

د ملکي تلفاتو د تاييد لپاره د يوناما د ميتودولوژي په حواله، د سرچينو لړ تر لړه درې بيلابيلې او خپلواکې منابع په کار دي.[14] د دې راپور د موخو لپاره، معلومات تر هغو چې لږ تر لږه د دوو قوي او خپلواکو سرچينو له خوا تاييد او تصديق نه

---

[13] لږ تر لږه ، يوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د متحده ايالتونو د ځواکونو څخه غوښتنه کوي ترڅو د متحده ايالتونو د پوځ د ۶-۱۵ مقرراتو لاندې پلټنه ترسره کړي څو د پيښې په تړاو حقايق معلوم کړي او د نړيوال بشردوستانه قانون او کليدي عملياتي طرزالعملونو سره اجابت وارزوي.

[14] د يوناما د ميتودولوژي په اړه د لانورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په واسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ۲۰۱۸ کال (د ۲۰۱۹ کال د فبروري د ۲۳ نيټې) کلنی راپور وګورئ، چې په انلاين بڼه په لاندې انټرنيټي پته د لاسرسي وړ دی:

شي، باوري او معتبر نه دي. د ملکي تلفاتو په اړه په افغانستان کې د متحده ایالتونو د ځواکونو سره د منظمو خبرو اترو د یوې برخې په حیث، یوناما بکوا ولسوالي ته د ماموریت په تعقیب خپلې ابتدایي اندیښنې او لومړنۍ موندنې او د ملکي تلفاتو په اړه ځانګړي معلومات شریک کړي.[15]

د یو شمیر دلایلو په خاطر، یوناما د مۍ د میاشتې د هوایي بریدونو په پایله کې، د ملکي تلفاتو د تصدیقولو په برخه کې د پام وړ ننګونو سره مخه شوې. هوایي بریدونو یوه پراخه جغرافیایي او لرې پرته سیمه چې د ولایتي پولې څخه تیریږي، چې له لسګونو څخه زیاتي اغیزمني سیمې احتوا کوي ، چیرې چې په هغه وخت کې په سیمه کې مخابراتي شبکې په مکرر ډول د ورځو ورځو لپاره پرې شوې وې، په بر کې نیسي. د نشه يي توکو د ناقانونه کاروبار سره د یو شمیر قربانیانو د ښکیلتیا له امله، په خاص ډول په سیمه کې د نشه يي توکو د تولید په پاته کارخونو د نورو احتمالي هوايي بریدونو په پام کې نیولو سره، د هغو ملکي تلفاتو په اړه د ځواب ویونکو سره خبرې او بحث، کوم چې د دغو هوايي بریدونو له امله را منځ ته کیږي، زیات حساسیت موجود وو پر دې سربیره د مهاجرو کارګرانو په اړه څوک چې د کار په موخه د نورو ولایتونو څخه بکواه ولسوالي ته راغلي وو، یوناما ته یو شمیر ملکی تلفات راپور شوي. د نشه يي توکو په ناقانونه صنعت کې د کار په شمول، د هوايي بریدونو وروسته، د دغو قربانیانو د کورنیو یو شمیر وارثین د هیواد یو شمیر نامعلومو سیمو ته کډه شو، چې په دې سره د یوناما لپاره ستونزمنه شوه څو د تعقیب چارې تعقیب کړي.

د هوايي بریدونو په پایله کې ملکي وګړو ته د اوښتي زیان د اندازې او وسعت په اړه، دا راپور د نشه يي توکو د کارخونو د ملکي وضعیت په اړه په کوم کې چې کارخونې او اړوند کارګران په نښه شوې، په حقوقي تحلیل تمرکز کوي. د خپلې میتودولوژۍ سره په سمون کې، د ملکي تلفاتو د تصدیقولو په برخه کې د کومو ننګونو سره چې یوناما مخه وشې، د ملکي تلفاتو ارقام چې په دې راپور کې ځای شوې حد اقل تصدیق شوې ملکي تلفات دي، مګر د ټولو اوښتو ملکي تلفاتو استازیتوب نه کوي.

## شالید
## د نشه يي توکو پر لابراتوارونو هوايي بریدونه

د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا په هیواد کې د نشه يي توکو د تولید پر کارخونو یا " د نشه يي توکو پر لابراتوارونو "[16]پوځي عملیات په ۲۰۰۸ کال کې پیل شول. د نړیوال امنیت د مرستندویه ځواک (ایساف) لپاره په عملیاتي پلان کې د بدلون سره، چې " د افغانانو سره یو ځای ایساف ته اجازه ورکوي چې د تاسساتو او تسهیل کونکو پر وړاندې چې د یاغیتوب سره مرسته کوي عمل وکړي، په دې شرط چې د نشه يي توکو سره د مبارزې په زمینه کې اړوند هیوادونه اجازه ورکړي".[17] د ۲۰۰۸ کال په نومبر کې، د متحده ایالتونو د ښکیلتیا اصول پراخ شول تر څو خپلو ځواکونو ته ورته اختیارات ورکړي څو په پوځي عملیاتو کې د مخدره توکو قاچاقبران په نښه کړي.[18] د مخدره توکو شاوخوا ۵۰ ادعا شوي قاچاقبران د یاغیتوب د تمویل

---

https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[15] یوناما په خپلو راپورونو کې د کره والي د یقیني کولو په خاطر د ښکیلو ډلو سره د ملکي تلفاتو د پیښو په اړه د دې لپاره معلومات شریکوي تر څو د شخړې د ښکیلو خواوو سره مرسته وکړي او مخه نیونکي او راکوونکي تدبیرونه ونیسي او قربانیانو ته د جبران خسارې د ورکولو په شمول حساب ورکونه ترویج کړي.

[16] د " مخدره توکو د لابراتوارونو " اصطلاح په افغانستان کې د مخدره توکو د تولید په زمینه کې نا سم نوم دی. د ډېرو لپاره ، د "لابراتوار" کلمه د یوه تعقیم شوې او منظم چاپیریال وړاندیز کوي ، چې د سپینو جامو خلک پکې کار کوي او په تجهیزاتو سمبال دي ... په حقیقت کې ، په افغانستان کې د مخدره توکو لابراتوار ځایي ودانۍ دي په کومو کې چې نشه يي توکي [...] پروسس کیږي. "مانسفیلډ ، د عاید څخه انکار یا د پیسو ضایع کول؟ مخ. ۲۳ (۴ لمنلیک وګورئ).

[17] د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی خاص پلټونکی (سیګار) ، د مخدره توکو پرضد مبارزه: په افغانستان کې د متحده ایالاتو د تجربو څخه ترلاسه شوې مشقونه (جون ۲۰۱۸) .۶۸ پاڼه ، په آنلاین بڼه شتون لري: https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-18-52-LL.pdf؛ د ناټو سرمنشي یاپ دی هوپ شیفر په ناټو سازمان کې وویل ، "ناټو په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې هڅې ګړندي کوي" (د اکتوبر ۱۰ ، ۲۰۰۸) ، په آنلاین بڼه په دغه ځای کې موجود دی https://www.nato.int/cps/en/natohq/news_50120.htm؟: په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د اګست ۲۴) ورته مراجعه شوی؛ او دویچه ویلې ، "ناټو په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د سختو کړنو لپاره معامله ترسره کوي" (د اکتوبر ۱۰ ، ۲۰۰۸) ، په آنلاین بڼه شتون لري: https://www.dw.com/en/nato-clinches-deal-for-tougher-afghan-drug- ACT/a-3704305-0 په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۱۷ ورته مراجعه شوی).

[18] د متحده ایالتونو د دفاع وزارت ، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لور پرمختګ: کانګرس ته د ۲۰۰۸ کال د دفاع د واک ورکولو ملي قانون سره سم راپور" (د ۲۰۱۹ کال جون) په ۷ ، په آنلاین بڼه د لاسرسي وړ ده : https://dod.defense.gov/Portals/1/Documents/pubs/1230_June-2009Final.pdf.

سره مرسته کوي چې نومونه یې د هدف نیولو په ګډ مدغم شوي لومړیتوب لرونکي لیست کې شامل شوي چې د "وژنې د لیست" په نوم پیژندل کیږي.[19] د ایساف په عملیاتي پلان کې د بدلون سره د ناټو د سازمان یو شمیر غړي مخالف وو، او دا پوښتنې هم راپورته شوي چې ایا د پوځي اقداماتو له لارې د قاچاق کونکو او مخدره توکو تاسیساتو په نښه کول د نړیوال قانون سره سم دي.[20] د متحده ایالتونو کانګرس ته د کانګرس په یوه تحقیقاتي راپور کې یادونه شوې چې "د ځینو هیوادونو لخوا داسې اعتراضونه څرګند شوي چې د دوی قانون د دوی عسکرو ته اجازه نه ورکوي چې د مخدره توکو پر وړاندې په عملیاتو کې دخیل شي.[21]" د ۲۰۰۹ کال په پای کې ، ښکارې چې د مخدره توکو د تاسیساتو او قاچاقبرانو په نښه کولو څخه د متحده ایالتونو د تګلارې تمرکز اوښتی.

د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د دفتر (UNODC) له لخوا د ۲۰۱۷ کال د اپیمو کلنۍ د سروې له مخې، په افغانستان کې د کوکنارو کښت له ۲۰۰۹ کال وروسته په دوامداره ډول زیات شوی ، چې په ۲۰۱۷ کال کې ریکارډ لوړې کچې ته رسیدلی.[22] د ۲۰۱۷ کال په نومبر کې، په افغانستان کې د متحده ایالتونو میشتو ځواکونو یو کمپاین، چې موخه یې " د طالبانو د مالي شبکو او عایداتو د جریانونو " په نښه کول وه، چې د سویلي آسیا لپاره د ولسمشر ټرمپ د نوې ستراتیژۍ لاندې چمتو شوي او موخه یې د هدف نیولو زیاتوالی دی، پیل کړ.[23] دغه کمپاین په هلمند ولایت کې د طالبانو د مخدره توکو د تولید د راپور شویو تاسیساتو پر وړاندې په هوایي بریدونو سره پیل شو. افغان امنیتي ځواکونو هم ورته هوایي بریدونه پیل کړل.[24] د دې کمپاین په حواله، د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالتونو خاص پلټونکي (SIGAR) یادونه وکړه چې "[ په داسې حال کې ] چې امریکایي او افغان ځواکونو په تیرو کلونو کې د هیرویینو لابراتوارونه په نښه کړي وو ، خو د لوړ پوړو پوځي قوماندانانو له خوا پاملرنه او هوایي بریدونه یې ساري وې.[25]

د ۲۰۱۸ کال په اپریل کې، په افغانستان کې د متحده ایالتونو میشتو ځواکونو په هیواد کې د ۲۰۱۷ کال په نومبر کې د کمپاین د پیل راهیسې د مخدره توکو د تولید په کارخونو ۷۵ هوایي بریدونه ترسره کړې.[26] د ۲۰۱۸ کال د اپریل په میاشت کې

---

19 د افغانستان د مخدره توکو جګړه: د مخدره توکو د قاچاق کونکو او بلواګرو ترمینځ اړیکې: د متحده ایالاتو د مشرانو جرګې د بهرنیو اړیکو کمیټې ته راپور "د ۲۰۰۹ کال د اګست ۱۰ " پراګراف ۱۶-۱۵ ، په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده: https://fas.org/irp/congress/2009_rpt/afghan.pdf.

20 اهمدا ماخذ. ۱۶ مخ. سوزان کوبل هم وګورئ ، "د ناټو لوی قوموندان د وژلو غیرقانوني حکم صادروي" ، سپیګل آنلاین (د ۲۰۰۹ کال د جنوري ۲۸) ، په آنلاین بڼه په دې ځای کې شتون لري: https://www.spiegel.de/international/world/battling-afghan-drug-dealers-nato-high-commander-issues-illegitimate-order-to-kill-a-604183.html (هغه "لاربښود" ته اشاره کوي چې د متحده ایالتونو د جنرال جان کرډوک لخوا په اروپا کې د ناټو د ائتیلاف ځواکونو د لوړ رتبه قوموندان لخوا خپور شوی ، چې وایې " نور د استخباراتو یا نورو شواهدو پیدا کولو ته اړتیا نشته چې په افغانستان کې د مخدره توکو هر ډول قاچاق کونکي یا د مخدره توکو تاسیسات د پوځي اهدافو معیارونه پوره کړي. ") ماتیاس ګیباویر او سوسن کوبل ، "د وژلو حکم د جرمني سیاستوالان په قهر کوي" ، سپیګل آنلاین (د ۲۰۰۹ کال د جنوري ۲۹) ، په آنلاین بڼه په دې ځای کې موجود دي:https://www.spiegel.de/international/world/battling-drugs-in-afghanistan-order-to-kill-angers-german-politicians-a-604430.html، په ( وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۱۷ ورته مراجعه شوی)؛ جوډي ډیمپسي ، "د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه به د قانون مکتوب تعقیب کړي، ناتو حواله" (د ۲۰۰۹ کال د نومبر ۱) په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده: https://www.nytimes.com/2009/02/11/world/asia/11iht-nato.4.20119005.html (په افغانستان کې د ناټو د سرتیرو د وړاندیز سره مخالفت ته اشاره کوي " له ثبوت پرته په هغو اشخاصو ډزې کول چې د اپیمو سره د هیرویینو د تصفیه کولو د لابراتوارونو د چمتو کولو لپاره مسؤل دي) "، او د ځینو غړو لخوا ویل شوي چې دا به نړیوال قانون نقض کړي.

21 د کانګرس تحقیقاتي څیړنه ، "په افغانستان کې ناټو: د ټرانزایټلانټیک ټلوالې ازموینه" (د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر ۳) مخ. ۱۵ ، په آنلاین بڼه په دې پته د لاسرسي وړ ده: https://fas.org/sgp/crs/row/RL33627.pdf

22 د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر ، "د افغانستان د تریاکو سروې، ۲۰۱۷: د دوامداره پرمختګ ، سولې او امنیت په اړه ننګونې".۴ مخ ، په آنلاین بڼه په دې پته د لاسري وړ ده : https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Opium-survey-peace-security-web.pdf.

23 سیګار ، " د متحده ایالتونو کانګرس ته درې میاشتنی راپور" (د ۲۰۱۸ کال د جنوري ۳۰) ، ۶۰ مخ. ، په آنلاین بڼه په دې پته د لاسرسي وړ ده: https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2018-01-30qr.pdf، په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۲۰ ورته مراجعه شوی) د متحده ایالاتو د کانګرس تحقیقاتي څیړنه ، "افغانستان: شالید او په لنډ ډول د متحده ایالتونو پالیسي" (د ۲۰۱۹ کال د اګست ۱)، په آنلاین بڼه په دې پته د لاسرسي وړ ده: https://fas.org/sgp/crs/row/R45122.pdf (په وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۲۰ ورته مراجعه شوی).

24 سیګار پخپل درې میاشتني راپور کې چې د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۳۰ خپور شوی- راپور ورکړی چې د افغانستان هوایي ځواک د دې کال له جنوري راهیسې د مخدره توکو ۱۹ تولیدي تاسیسات له منځه وړي دي. وګورئ ، سیګار ، "د متحده ایالتونو کانګرس ته درې میاشتنی راپور" ، ۱۸۰ مخ ، https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2018-07-30qr.pdf.

25 سیګار ، د مخدره توکو پرضد مبارزه: په افغانستان کې د متحده ایالتونو د تجربې څخه مشقونه ، د ۲۰۱۸ کال جون، مخ. xii، https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-18-52-LL.pdf

26 په افغانستان کې د متحده ایالتونو میشت ځواکونه، " د طالبانو د عایداتو پر وړاندې د متحده ایالتونو هوایي بریدونه لویدیز افغانستان ته پراخیږي"، د (۲۰۱۸ کال د اپریل ۷) په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده: https://rs.nato.int/news-center/press-releases/2018-

يوازې، افغان او د متحده ايالتونو ځواکونو د راپور سره سم د طالبانو د مخدره توکو ټولټال ۲۹ لابراتوارونه له منځه وړي،[27] دا په داسې حال کې ده چې د هيواد په لويديځ کې په نيمروز او فراه ولايتونو کې هوايي کمپاينونه پراخ شول.[28] د ۲۰۱۸ کال د جون تر پای پورې ، په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشت ځواکونو اعلان وکړ چې د "مخدره توکو د توليد ، د ذخيره کولو او قاچاق ځايونو ، او همدارنګه د وسلو او چاوديدونکو توکو د زيرمتونونو ، قرارګاو او د تجمع د محلونه په شمول، يې د طالبانو ۱۵۴ اهداف له منځه وړي ".[29]

يوناما په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ميشتو ځواکونو او د افغان هوايي ځواک په واسطه د مخدره توکو په راپور شويو لابراتوارونو، د ۲۰۱۷ کال د نوامبر ور هاخوا، اکثرا د شپې له خوا، په تيره بيا په خالي ودانيو ، يو شمير هوايي بريدونه مستند کړي دي. په ځينو پيښو کې، يوناما ملکي تلفات تاييد کړي دي. يوه ورته پيښه د ۲۰۱۷ کال د نومبر په ۱۹ هغه مهال واقع شوه چې کله د شپې په ۱۱ بجو په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشتو ځواکونو د هلمند ولايت د موسی کلا ولسوالۍ په بازار سيمه کې په ودانيو چيرې چې د راپورونو سره سم د ترياکو کاروبار کيده، هوايي بريدونه ترسره کړل. د مخدره توکو د يوه ادعا شوي قاچاقبر په کور هوايي بريد ترسره شو چې په نتيجه کې يې هغه او د هغه د کورنۍ غړي ووژل شول. يوناما د لسو ملکيانو وژل تاييد کړي: يو سړی، درې ښځې او شپږ ماشومان.[30] يوناما د دې پيښې په اړه خپلې موندنې په ليکلي بڼه د ناټو غوڅ ملاتړ ماموريت/ په افغانستان کې د متحده ايالتونو ځواکونو ته وړاندې کړې او د ناټو د غوڅ ماموريت د ملکي تلفاتو د کمولو د ټيم سره د ۲۰۱۷ کال د ډسمبر په ۱۰ په کابل کې خبرې اترې ترسره کړې. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ميشتو ځواکونو له خوا هوايي بريدونه په څرګند ډول ومنل شول، د ملکي تلفاتو د کمولو ټيم د ملکي تلفاتو د پيښيدو څخه انکار وکړ. د متحده ايالتونو د دفاع وزارت د ملکي تلفاتو راپور په ۲۰۱۷ کې څرګنده کړه چې د غوڅ ملاتړ ماموريت تحقيقاتو "ياده ادعا رد کړه ځکه چې د يوه معين وخت په دننه کې د کور د نظارت کولو چارو داسې څه ونه ښودل چې وښيي په کور کې کورنۍ اوسيږي.[31]

---

press-releases/us-airstrikes-against-taliban-revenue-expand-to-western-afghanistan.aspx په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۱۷ ورته لاسرسی شوی).

[27] په افغانستان کې د متحده ايالتونو ميشت ځواکونه ، "د طالبانو د ناقانونه عوايدو د سرچينو د ويجاړولو لپاره هوايي بريدونه" (د مې ۸ مه) ، په دې ځای کې په انټرنيټي بڼه شتون لري: https://rs.nato.int/news-center/press-releases/2018-press-releases/record-month-for-airstrikes-to-destroy-taliban-illicit-revenue-sources.aspx، په(وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۱۷ ورته لاسرسی شوی).

[28] سيګار ، په ۵۷ کې د مخدره توکو پرضد مبارزه (۲۵ لمنليک وګورئ).

[29] د متحده آيالاتو د دفاع وزارت ، د متحده ايالاتو پروړاندې د ګواښونو مالي کمپاين او د متحده ايالاتو د هوايي عملياتو په اړه (د ۲۰۱۸ کال د جون ۲۷) "د بريد جنرال لانس آر بنچ لخوا د مطبوعاتي کنفرانس له لارې وينا، ، په لاندې انټرنيټي پته موجود دی: https://dod.defense.gov/News/Transcripts/Transcript-View/Article/1562148/department-of-defense-press-briefing-by-brig-gen-lance-r-bunch-via-teleconferen/ (په وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۱۵ ورته مراجعه شوی).

[30] د غوڅ ملاتړ ملاتړ ماموريت وګورئ ، "افغان ، او د متحده ايالتونو ځواکونو د طالبانو د تمويل د شبکو د له منځه وړلو لپاره نوی کمپاين پيل کړ" (د ۲۰۱۸ کال د نومبر ۲۰) ، په لاندې انټرنيټي پته د لاسرسي وړ ده:https://rs.nato.int/news-center/press-releases/2017/afghan--us-forces-launch-new-campaign-tbnetworks.aspx په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۳۰ ورته مراجعه شوی)؛ ډيوډ مانسفيلډ هم وګورئ ، په افغانستان کې د هيرويينو په لابراتوارونو بمبار: د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې په پرخه کې وروستی قانون ، د LSE د مخدره توکو د نړيوالې پاليسي واحد (جنوري ۲۰۱۸) ، په لاندې ويب پاڼه کې موجود دی: http://www.lse.ac.uk/united-states/Assets/Documents/Heroin-Labs-in-Afghanistan-Mansfield.pdf; او " د طالبانو پر اقتصادي اډو هوايي او ځمکني بريدونه دوام لري" (۳۰ نومبر ۲۰۱۷) ، په دې ځای کې شتون لري: https://rs.nato.int/news-center/feature-stories/2017/air-and-ground-strikes-t-economic-continue-.aspx په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۱۷ ورته مراجعه شوی).

[31] د متحده ايالتونو د دفاع وزارت ، په ۲۰۱۷ کال کې د متحده ايالتونو د پوځي عملياتو په حواله د ملکي تلفاتو په اړه کلنۍ راپور، په آنلاين بڼه په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://fas.org/man/eprint/civcas2018.pdf at 10 ، په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۲۹ ورته مراجعه شوی).

د متحده ایالتونو د هوایي بریدونو په نتیجه کې د زیاتیدونکو ملکي تلفاتو د اندیښنو له امله چې ممکن دغه لابراتوارونه په نښه شي، د ۲۰۱۸ کال د می تر پای پورې، په هلمند کې د طالبانو قوماندان ملا منان د راپورونو سره سم د مخدره توکو ټولو لابراتوارونو ته چې د هغه تر کنټرول لاندې سیمه کې يې فعالیت کاوه امر کړی د ښاري سیمو څخه ووځي. هغه د راپور سره سم په خپل پیغام کې ویلي چې "[موږ] باید په کلکه خلکو ته ووایو چې که دوی په عامه کورونو کې د مخدره توکو فابریکې بندې نه کړي دوی به زندان ته واستول شي" او هر هغه طالب چې دې ډول تاسیساتو ته د کار اجازه ورکړي هغو ته به سزا ورکړل شي.[32]
د ۲۰۱۸ کال د جون د میاشتې په خپل راپور کې ، کوم چې په افغانستان کې د متحده ایالتونو له تجربو څخه "په ترلاسه شويو او زده کړه شويو مشقونو تمرکز درلود ، سیګار د هوایی کمپاین او په ملکي وګړو د هغې د احتمالي اغیزې په اړه اندیښنه څرګنده کړه:

> د مخدره توکو د تولید ، د یاغیانو د تمویل ، د حکومتي فساد ، او په مخدره توکو پورې د اړوندو نورو ننګونو په اړه د هوایی ممنوعیت د کمپاین اوږد مهاله اغیزې ناڅرګنده پاتې دي. دلته دا خطر هم شتون لري چې د افغان او نړیوالو ځواکونو له خوا زیاتیدونکي هوایي بریدونه د ملکي مرګ ژوبلې لامل شي، کلیووال خلک تجرید کړي، او یاغیتوب پیاوړی کړي. ملکي تلفات - یا عامه درک چې هوایی بریدونه یا بمباري هغه کلیوالي ټولنې چې د عایداتو پایښت لرونکي سرچینې دي، په نښه کوي – کیدای شي د لنډمهاله ګټو په پرتله چې موخه يې په موقت ډول د نشه يي توکو د تولید او د بلواګرو د تمویل د سرچینو ګډوډول دي د ائیتلاف لپاره په اوږدمهال کې د زیات لګښت لامل شي.[33]

سیګار پدې اړه هم پوښتنې راپورته کړې چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ، په افغانستان کې د متحده ایالتونو میشت ځواکونه او نور تر کومه حده توانیدلي چې د متحده ایالتونو د هوایي عملیاتو په پایله کې طالبانو ته اوښتي مالي زیانونه محاسبه کړي ، پدې ټینګار کوي چې "یاغیان په نشه يي توکو د مالیاتو د لګولو ورخوا د یو لړ پراخو فعالیتونو له لارې تمویل کیږي".[34] سیګار خبرداری ورکړ چې " د مخدره توکو په سوداګرۍ د طالبانو د اتکا په اړه له حده زیات اټکل ممکن غیر دقیقي ارزونې را منځ ته کړي ، دا چې د نشه يي توکو د لابراتوارونو د له منځه تللو له امله د طالبانو مالي سرچینې څنګه شدیدا زیان مونډلای شي.[35] د ۲۰۱۸ کال د څلورمې ربعې په خپل راپور کې، سیګار وویل چې په افغانستان کې د متحده ایالتونو میشتو پوځي ځواکونو د " طالبانو د مخدره توکو دسایټونو" پر وړاندې خپل کمپاین پای ته ورساوه.[36]

د بکوا په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۹ کال د می د پنځمې نیټې هوایی برید- لومړنی برید وه چې یوناما په دې کچه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه ادعاووې تر لاسه کړې، چې دې د ورته ډول عملیاتو په پایله کې د ملکي وګړو د بې ساري زیان په اړه اندیښنې راپورته کړې. دې په افغانستان کې د متحده ایالتونو د میشتو ځواکونو د هدف په نښه کولو پالیسۍ او کړنې په برخه کې د اندیښنې وړ بدلون ته اشاره وکړه، دا عملیات په هغو ودانیو ترسره شو، په کومو کې چې د هوایی بریدونو پر مهال خلک اوسیدل.

---

[32] میمفس بارکر او سمیع یوسفزی ، "د طالبانو قوماندان په ښارګوټو او ښارونو کې د اپینو د لابراتوارونو د تړلو امر کوي" ګارډین ، د می ۲۸ مه ، په لاندې ځای کې موجود دی: https://www.theguardian.com/world/2018/may/28/taliban-commander-orders-closure-of-opium-labs-in-towns-and-cities (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۱۷ ورته مراجعه شوی).

[33] سیګار ، په ۵۷ کې د مخدره توکو پرضد مبارزه (۲۵ لمنلیک وګورئ). کایل ریمفر هم وګورئ ، "د افغانستان د مخدره توکو په لابراتوارونو باندې د بمبارو د موثریت په اړه شکونه مطرح شوي" ، پوځي خبرې اژانس (د فبروري ۵ مه) ، پدې پته د لاسرسي وړ دی: https://www.militarytimes.com/flashpoints/2018/02/05/doubts-rise-over-effectiveness-of-bombing-afghan-drug-labs/ په (وروستی ځل د ۲۰۱۴ کال د اګست ۲۴ ورته مراجعه شوی).

[34] سیګار ، د مخدره توکو پرضد مبارزه ، پاڼې -۷۶-۷۷ (۲۶ لمنلیک وګورۍ).

[35] همدا ماخذ. مینسفیلډ هم وګورئ ، د عایداتو مخه نیول یا د پیسو ضایع کول؟ په -۴۴--۴۷ (څلورم لمنلیک وګورئ) او مانسفیلډ ، په افغانستان کې د هیروینو په لابراتوارونو بمباري ، مخ. ۱۲ (۳۰ لمنلیک وګورئ) (" د پروسس کولو په اړه د طالبانو د کنټرول ادعاووې له حده زیاتې وې").

[36] سیګار ، د آزادۍ د عملیاتو ساتونکی ، د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر له ۱ د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر تر ۳۱ ، په دې پته د لاسرسي وړ دی: https://media.defense.gov/2019/Feb/20/2002091191/-1/-1/1/FY2019_LIG_OCOREPORT.PDF په ۲۴ (په وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۳۰ ورته مراجعه شوې).

## په افغانستان کې د ميتامفيتامينو توليد

پداسې حال کې چې په افغانستان کې د ميتامفيتامينو د توليداتو په اړه معلومات نسبتا کم دي ، داسې نښې نښانې شتون لري چې ميتامفيتامين د يوې رابرسيره کيدونکې ستونزې په حيث را څرګنديږي. ميتامفيتامين ، چې اکثرا په محلي کچه " کرسټال " شيشه يا " نخ / يخ "،بلل کيږي ، په لومړي ځل د دې توکو سره هغه وخت مخ شو چې کله په ۲۰۰۸ کال کې د ايران د اسلامي جمهوريت سره په ګډه پوله په لويديزه سيمه کې د دې ډول توکو لومړي محمولې ضبط ثبت شوې.[37] د مخدره توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو د دفتر په حواله، د ميتامفيتامينو نيونې له هغه راهيسې په ټول افغانستان کې په بې ساره توګه ډيره شوې.[38]

تر دې وروستيو پورې، د ميتامفيتامينو توليد کونکو د ډيکونجسټننو/ د احتقان ضد توکو لوی مقدار (pseudoephedrine او ephedrine) کارولي ، کوم چې د ميتامفيتامينو د جوړولو لپاره د کيمياوي پريکرسر په توګه په پراخه پيمانه په افغانستان کې شتون لري.[39] د دغو توليداتو د مخ پر زياتيدونکو بيه له امله، هغوی د يوه محلي کرل شوي ايفيډرا بوټي په کارولو پيل وکړ چې د"اومان" يا "اوماني" په نامه ياديږي.[40] ويل کيږي چې د دغه بوټي په کارولو سره د ميتامفيتامينو د توليد لګښت نيم ته راټيټ شوی.[41] د راپورونو سره سم دا بوټی په غور کې راټوليږي او د بکوا او د فراه د ګلستان او همدارنګه د نيمروز په دلارام کې په سوداګرو پلورل کيږي.[42]

د بکواه ولسوالي ، چې له هلمند او نيمروز ولايتونو سره ګډه پوله لري ، د راپورونو له مخې د ميتامفيتامين د لابراتوارونو په شمول د مخدره توکو زيات لابراتوارونه لري. ډيری لابراتوارونه "په لويه کچه د مالک لخوا اداره کيږي ،" چې تر ډيره بريده کورنۍ ډوله سوداګري ده چې په زړه ودانۍ يا متروکه زړه ودانۍ کې چې د کرايه کونکي کروندګر يا شريک کروندګر لخوا پريښودل شوي وي، موقعيت لري.[43] دا په هيواد کې په بل ځای کې د مخدره توکو د راپور شويو لابراتوارونو سره په پرتله لوی او ډير تخصصي يا مسلکي دي.[44] په بکواه کې د مخدره توکو د توليد لګښتونه او اندازه د مخدره توکو د پروسس

---

[37] د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر، د افغانستان د مصنوعي مخدره توکو د وضعيت ارزونه (د ۲۰۱۷ کال د جنوري ۸ ، پاڼي ۸ او، ۱۵ ، په لاندې پته د لاسرسي وړ دي: https://www.unodc.org/documents/Reports/2017_Afghanistan_Synthetic_Drugs_Assessment_report.pdf.

[38] مارک کولون ، په افغانستان کې د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د دفتر رييس ، په بين فارمر کې په دې ډول نقل شوی ، " افغانستان د ميت د توليد په برخه کې د ډيروالی شاهد و په داسې حال کې چې د غيرقانوني نشه يي توکو نيونې دوه برابره وي. ، ټيليګراف (د ۲۰۱۹ کال د اګست ۱۹) ، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://www.telegraph.co.uk/global-health/terror-and-security/afghanistan-sees-boom-meth-production-seizures-illegal-drug/ په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د اګسټ په ۲۱ ورته مراجعه شوې). ايکونوميسټ هم وګورئ ، "د افغانستان د مخدره توکو مهم کسان د ميتامفيتامينونو کاروبار ته لاسرسي پيدا کوي" (د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر ۵) ، په آنلاين بڼه په دې ځای کې د لاسرسي وړ دی: https://www.economist.com/asia/2019/09/05/afghan-drug-barons-are-branching-out-into-methamphetamines (په وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۱۲ ورته مراجعه شوې). په ۲۰۱۲ کې ، د مخدره توکو پر وړاندې د مخدره توکو وزارت د هرات ، فراه ، فارياب ، کندهار ، بلخ او کابل د ولايتونو په شمول د پوليسو په لابراتوار کې د زياتو ميتامفيتامينو د ضبط د نمونو د راپور ورکولو وروسته، ميتامفيتامين د "يوه ممکنه رابرسيره کيدونکی توکی" په توګه پيژندلی . د افغانستان د مخدره توکو د وزارت راپور (۲۰۱۲) وګورئ ، چې د ۲۰۱۳ په نومبر کې خپور شوی ، چې په دې پته د لاس رسي وړ دی: www.mcn.gov.af او په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د اګست ۲۱ ورته مراجعه شوې).

[39] د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر په وينا ، افغانستان په کال کې په قانوني ډول تر 0.3 ټنو پورې pseudoephedrine او 0.05 ټنو ايفيډرين واردوي ، که څه هم چې ممکن په لوی مقدار کې په غيرقانوني ډول هيواد ته راوړل شي. د نورو معلوماتو لپاره ، د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر ته مراجعه وکړئ ، د افغانستان مخدره درمل( هغه غيرقانوني درمل چې د اعتياد لامل کيږي. ( ۳۷ وګورئ). ډيوډ مانسفيلډ او اليکس سوډرهولم هم وګورئ ، "اوږده مطالعه: د افغانستان د ميتامفيتامين د توليد نويو څپو نامعلوم نا پيژندل شوي" (د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر ۳۰) ، په آنلاين بڼه په دې ځای کې شتون لري: https://blogs.lse.ac.uk/usappblog/2019/09/30/long-read-the-unknown-unknowns-of-afghanistans-new-wave-of-methamphetamine-production/ په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر په ۱ ورته مراجعه شوې).

[40] بزګر ، "افغانستان د ميت د توليد په برخه کې د زياتوالي شاهد پاته شوی." (۳۸ لمنليک وګورئ) مينسفيلډ ، د عايد څخه انکار يا د پيسو ضايع کول؟ مخ. ۲۳ (۴ لمنليک وګورئ)؛ مانسفيلډ او سوډرهولم ، "د ميتامفيتامينو د توليد نوې څپې" ، همداماخذ.

[41] مينسفيلډ ، همدا ماخذ؛ مانسفيلډ او سوډرهولم ، همدا ماخذ.

[42] مانسفيلډ او سوډرهولم ، همدا ماخذ.

[43] مينسفيلډ ، د عوايدو انکار يا د پيسو ضايع کول؟ ، مخونه ۲۶-۲۷ (۴ لمنليک وګورئ).

[44] د مثال په توګه ، د هلمند ولايت په ګندم ريز کې د راپور سره سم د مخدره توکو لابراتوارونه په لويه کچه توليد کوي. همدا ماخذ وګورئ. ۲۷-. ۲۳ .

کولو لپاره د نورو مشهورو موقعيتونو، يعني د هلمند ولايت د ګندم ريز او موسی قلعه د ولسواليو په پرتله "د پام وړ ټيټه" ده.[45]

## په افغانستان کې د مخدره توکو د ناقانونه فعاليتونو په اړه د قانون د پلي کونکو ادارو غبرګونونه

افغان حکومت په تيرو وختونو کې په لومړي سر کې د قانون د پلي کونکو عکس العملونو په کارولو سره د مخدره توکو لابراتوارونه په نښه کړي. د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۸ کلونو ترمنځ،[46] د کورنيو چارو د وزارت په چوکاټ کې د افغانستان د مخدره توکو ځانګړي ځواک (کوماندو ۳۳۳ ځواک) د طالبانو تر کنټرول لاندې په لرې پرتو سيمو کې د مخدره توکو د له منځه وړلو ماموريتونه ترسره کړي ، چې پوځ پکې يوازې ملاتړ کونکې  رول لوبوي. د دې عملياتو موخه د "يوې قانوني پايلې وړاندې کول او د قانون د پلي کولو لپاره د افغان حکومت د وړتيا پياوړې کول دي، چيرې چې ممکن وي، " د شواهدو د ضبط کولو او د اشخاصو د نيولو په شمول چې په جرمي فعاليتونو کې دخيل دي.[47]

د ماموريت د ځانګړې ځانګې په مرسته،[48] په اوس حال کې د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې افغان پوليس، د قانون پلي کونکي پرسونل له خوا په افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د هڅو رهبري کوي.[49] پدې کې د له منځه وړلو د داخلي ځانګې په شمول (NIU) کوم چې د مخنيوي او نيونو عمليات ترسره کوي، ځانګړې واحدونه شامل دي چې ګرفتاري ترسره کوي او د "لوړ خطر په چاپيرياڵونو" کې د تلاشي د محکمې قرار  پلي کوي،.[50] د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۹ کلونو تر منځ، د ۳۵۰۰ څخه زيات د له منځه وړلو عمليات ترسره کړې، د ۴۰۰۰ څخه زيات کسان نيولي او د ۲.۷ ميليون کيلوګرامه څخه زيات ناقانونه مخدره توکي او کيمياوي پريکرسر (چې د اصلي مادې په حيث کارول کيږي) ضبط کړي دي.[51]

تر دې وروستيو پورې ، د هيروينو ، اپينو يا نورو مخدره توکو د توليد په پرتله، د ميتامفيتامينو توليد او کاروني ته د قانون د پلي کونکو فعالينو لخوا ډير پام و نه شو. د راپور شويو ميتامفيتامينو د مجموعي ميزان اندازه د ۲۰۱۱ کال د مارچ او د ۲۰۱۵ کال د مارچ تر منځ موده کې چې په افغانستان کې ضبط شوې، د شاوخوا ۲۰ کيلوګرامو څخه زياته وه.[52] په ۲۰۱۷ کې ، د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر اشاره وکړه چې "د ميتامفيتامينو د نيولو او ضبطولو په برخه کې زياتوالی، د ميتامفيتامينو د توليد په اړه د راپورونه سره يو ځای او د هيواد په ځينو برخو کې د درملنې د ثبتونو په برخه کې زياتوالی وړانديز کوي چې په افغانستان کې صنعتي درمل د زياتي انديښنې وړ دي.[53]

د ۲۰۱۹ کال د فبروري د ۱۵ او مې د ۱۵ نيټې تر منځ ، د قانون پلي کونکو چاراوکو د مخدره توکو پر وړاندې ټولټال ۱۱۳۰ عمليات ترسره کړي چې په پايله کې يې ۱۳۵ کيلو ګرامه ناقانونه ميتامفيتامين او د ۳،۴ methylenedioxymethamphetamine (MDMA) ټولټال ۲۷۴۱۹ ټابليټونه نيول شوي دي. . چاراوکي وتوانيدل چې پدې موده کې د هيروينو د جوړولو ټولټال ۱۱ لابراتوارونه له منځه يوسي، ټولټال ۱۳۳۸ شکمن کسان ونيسي او ۱۷۰ موټرې ، ۲۲۴ وسلې او پنځه راډيوګاني ضبط کړي.[54] د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۵ ، افغان چاراواکو د يوې لاری موټر د

---

[45] همدا ماخذ، ۲۷ مخ.
[46] دغه کوماندو ځواک په ۲۰۰۹ کال کې د تروريزم پرضد د عملياتو لپاره مجددا را منځ ته شو.
[47] مانسفيلډ ، په افغانستان کې د هروئينو په لابراتوارونو بمباري ، مخونه ۶-۷ (۳۰ لمنليک وګورئ).
[48] د ځانګړي ماموريت ځانګه د افغانستان د هوايي ځواک ځانګړي عمليات دي چې د افغان ملي اردو د ځانګړو عملياتو قومنداني او د پوليسو د ځانګړي واحدونو د عمومي قومنداني ملاتړ کوي.
[49] د مخدره توکو پروړاندې د افغانستان پوليس په ۲۰۰۳ کې د کورنيو چارو د وزارت په چوکاټ کې د متخصص ځواک په توګه رامنځ ته شوې.
[50] سيګار ، "د متحده ايالتونو کانګرس ته درې مياشتنی راپور" (د ۲۰۱۹ کال د جنوري ۳۰) ، مخ. ۱۸۷ ، پدې پته د لاسرسي وړ دی: https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2019-01-30qr-section3-counternarcotics.pdf په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر په ۱ ورته مراجعه شوې).
[51] همدا ماخذ ، مخ. ۱۸۹؛ سيګار ، "د متحده ايالتونو کانګرس ته درې مياشتنی راپور" (د ۲۰۱۹ کال د جولای ۳۰ ،) ، مخ. ۱۷۴ ، پدې پته د لاسرسي وړ دی: https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2019-07-30qr.pdf په (وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر په ۱ ورته مراجعه شوې).
[52] د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر ، د افغانستان  صنعتي  درمل (۳۷ لمنليک وګورئ).
[53] همدا ماخذ. مخ. ۳۳.
[54] A/73/902; S/2019/493.

تيلو له ټانکۍ څخه د ضبطولو په يوه هڅه کې د ميتامفيتامينو ۴۹ کيلوګرامه ضبط کړل په داسې حال کې چې قاچاقبرانو هڅه کوله چې دغه توکي له فراه څخه ننګرهار ولايت ته انتقال کړي.[55]

## موندنې

### لومړني معلومات

د مې په ۵ ، د ماخستن له ۱۱ څخه د ماسپښين تر ۱ بجو پورې ، په افغانستان کې د متحده اياﻻتو ميشتو ځواکونو د فراه ولايت د بکوا ولسوالۍ په ګڼ شمير سيمو کې يو لړ هوايي بريدونه ترسره کړل، چې د نيمروز ولايت د دلارام ولسوالۍ ته وغځيدل. په افغانستان کې د متحده اياﻻتونو ځواکونو اشاره وکړه چې ياد هوايي بريدونو د ميتامفيتامين د توليد کارخونې په نښه کړې ، چې عموماً د نشه يي توکو د "لابراتوارونو" په نوم پيژندل کيږي ، چې "د طالبانو لخوا په منحصره توګه کنټرول او پر مخ وړل کيدل"[56].

د پيښې سمدستي وروسته ، د ملکي تلفاتو تورونه په مطبوعاتو کې په ښکاره ډول راپور شول[57]. د يوناما د تورونو په اړه د سرچينو لخوا د ۴۰ څخه تر ۲۰۰ پورې د ملکي تلفاتو راپور ورکړ. د افغانستان د کورنيو چارو وزارت خبر ورکړ چې د ايتلافي هوايي بمباريو په نتيجه کې د بکوا ولسوالۍ په اشکين ، سپين کاريز او پلوخې سيمو کې د طالبانو ۶۸ د "نشه يي توکو لابراتوارونه" او د ميتامفيتامينو په شمول زرګونه کيلوګرام نشه يي توکي تخريب کړي، د طالبانو ۱۵۰ غړي يې وژلي او ۴۰ نور يې ټپيان کړي دي[58].

د بکوا ولسوال رسنيو ته ويلي چې په عملياتو کې ۴۵ ملکي وګړي وژل شوي ، چې ډيری يې د ۱۸ طالب جنګياليو سره په لابراتوارونو کې کار کاوه[59]. طالبانو ، د خپل جهاد غږ ويب پاڼې له لارې ، ياد راپورونه "په کلکه" رد کړي چې د مې په ۵ عملياتو کې زيانمن شوي، د طالبانو د مخدره توکو فابريکې وې او وژل شوي کسان د طالبانو غړي وو. طالبانو ادعا کړې چې د دوی هيڅ غړی په هيڅ ډول د "مخدره توکو په سوداګرۍ " کې لاس نه لري او دا چې ټول وژل شوي کسان ځايي بزګران او ملکيان وو[60].

يوناما د مې په مياشت کې په افغانستان کې د متحده اياﻻتو د ميشتو ځواکونو سره د ګڼ شمير غونډو په جريان کې د هغو راپورونو په اړه لومړنۍ انديښنې راپورته کړې چې د ۵ مې د هوايي بريدونو په پايله کې د ملکي تلفاتو په اړه ترلاسه شوي دي. په افغانستان کې د متحد اياﻻتو ځواکونو په وينا ، "د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره ټول عملي ګامونه اخيستل شوي" او د دوی لومړنۍ ارزونې ښيي چې د هوايي بريدونو په پايله کې ملکي تلفات رامنځ ته شوي نه وو. يادې ارزونې ښودلې چې يو شمير مشکوک لابراتوارونه په ځانګړې ډول د ملکي تلفاتو په اړه د انديښنو له امله تر بريدونو لاندې رانغلل[61]. په افغانستان کې د متحده اياﻻتو ميشتو ځواکونو ارزونه ښيي چې په نښه شويو کارخونو کې ټول اشخاص د طالبانو غړي وو او پرته له دې چې دا ثابته کړي چې دوی په مستقيم ډول په جګړو کې برخه اخيستې په قانوني توګه په نښه کيدای شول.[62] په

---

[55] د افغانستان لپاره د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر ، "په کابل کې د MDT لخوا د ميتامفيتامينو نيونه" (د جوالی ۵) ، په دې انټرنيټي پته د لاسرسي وړ دی: https://www.unodc.org/afghanistan/en/methamphetamine-seizure-by-mdt-in-kabul.html په ( وروستی ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۱۷ ورته مراجعه شوې).

[56] د يوناما اعتراض ته په افغانستان که د متحده اياﻻتو د ځواکونو ځواب، ( ۷ لمنليک وګورئ)

[57] پژواک خبري آژانس، "په فراه کې د نظامي ځواکونو لخوا په لسګونو ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې" ( د ۲۰۱۹ کال د می ۷)، چې په آنلاين بڼه په دغه لينک کې شتون لري https://www.pajhwok.com/en/2019/05/06/dozens-civilians-forces-killed-and-wounded-farah (د وروستي ځل لپاره د ۲۰۱۹ د سپتمبر په ۱۲ کې ورته مراجعه شوې وه; "د محلي چارواکو په وينا، د طالبانو د نشه يي توکو په لابراتوارونو باندې د هوايي بريدونو له کبله افغان ملکيان وژل شوي دي"، رويترز (د ۲۰۱۹ کال د می ۷ نيټه)، چې په لاندې لينک کې شتون لري https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-airstrike/afghan-civilians-killed-in-air-strikes-on-taliban-drug-labs-local-officials-say-idUSKCN1SD1IZ?il=0، (د وروستي ځل لپاره د ۲۰۱۹ د آګست په ۲۱ کې ورته مراجعه شوې و)

[58] د ۲۰۱۹ کال د مې په ۶ د کورنيو چارو وزارت په دری ژبه اعلاميه چې په دغه لينک که شتون لري https://moi.gov.af/dr/تخريب-۶۸-کارخانه-توليد-و-پروسس-مواد-مخدر-در-فراه-و-نيمروز

[59] د رويترز دغه خبر " د هوايي بريدونو له امله افغان ملکي وګړي مړه شوي" وګورئ ، ۵۷ لمنليک ته مراجعه وکړئ.

[60] د جهاد غږ، " د اسلامي امارت د نشه يي توکو د کښت او توليد سره هيڅ ډول رابطه نلري" د ۲۰۱۹ کال د مې ۸ نيټه)، چې په دغه لينک کې شتون لري https://alemarahenglish.com/?p=45570 ( (د وروستي ځل لپاره د ۲۰۱۹ د سپتمبر په ۱۲ کې ورته مراجعه شوې و)

[61] د يوناما اعتراض په اړه په افغانستان کې د متحده اياﻻتو ميشت ځواکونو ځواب ( ۷ لمنليک وګورئ)

[62] د ۲۰۱۹ کال د اګست په ۲۰ نيټه، په افغانستان کې د متحده اياﻻتو ميشت ځواکونو د حقوقي مشاور او د يونام ترمنځ د ايميل له طريقه مراسلات، چې د يوناما په آرشيف کې شتون لري.

افغانستان کې د متحده ایالاتو میشتو څواکونو ویلي چې ځینې په نښه شوي اشخاص د کیمیاګر او لوژستیک په توګه کار کاوه پداسې حال کې چې پاتې نور یې وسله وال ساتونکي وو[63].

## د حقيقت موندنې ماموريت او تعقيب

د ۲۰۱۹ کال د جون په ۲۶ نیټه، یوناما د بکوا په ولسوالۍ کې له هوايي برید څخه اغیزمنې ځانګړې ساحې ولیدلې چې د ځايي سرچینو لخوا پیژندل شوې وې چې د مخدره توکو د لابراتوارونو په توګه یې فعالیت کاوه. سرېره پردې ، ځايي سرچینو یو شمیر هغه اغیزمنې ساحې په ګوته کړې چې د اوسیدو کورونه وو چیرې چې د مخدره توکو پروسس نه و شوی[64]. یوناما هغه ویډیوګانې او عکسونه وکتل ، چې د شاهدانو ، قربانیانو او ځايي اوسیدونکو لخوا د ۵ مۍ د هوايي بریدونو څخه په مستقیم ډول اخیستل شوي وو. یادې ویډیوګانې او عکسونه په ګوته کوي چې یادو ځواکونو په بازار کې د هټۍ ، د تیلو سټېشن او موټرې هم په نښه کړې. یوناما د بکوا ولسوالۍ ته د لیدنې په جریان کې د یادې ساحو څخه لیدنه وکړه او په ویډیوګانو او عکسونو کې یې ښودل شوي معلومات تصدیق کړي.

د یادي پيښې راهیسې ، یوناما و نه شو کولای چې په افغانستان کې د متحده ایالتونو م ځواکونو موقف تایید او تثبیت کړي، دا چې د هوايي برید پرمهال په نښه شوي د مخدره توکو لابراتوارونه د طالبانو لخوا په انحصاري توګه کنټرول او پرمخ وړل کېدل. له سیمې او همدارنګه د استخباراتي چارواکو او د ملي امنیت د ځواکونو په شمول، د افغان چارواکو څخه له ډیری معتبرو سرچینو ترلاسه شوي او ارزول شوي معلومات، ښیي چې د نشه يي توکو لابراتوارونه د جرمي ډلو تر مالکیت لاندې او د هغوی لخوا پر مخ وړل کیدل، البته د نشه يي توکو د قاچاق د نړیوالو شبکو سره یې اړیکې لرلې. د لابراتوارونو مالکین او کارګران پیژندل شوي وو چې پخپله د طالبانو څخه جلا کار کوي.

خو، د راپورونو سره سم، طالبان د بزګرانو او لابراتوارونو د مالکینو څخه چې د میتامفیتامینو په تولید کې ښکیل دي، "مالیات" اخلي ، لکه څنګه چې طالبان په هغو نورو سیمو کې چې په کومو کې کنټرول یا نفوذ لري، د مخدره توکو د تولید نور ډولونه لکه تریاکو او هیرويینو له درکه مالیات راټولوي[65]. همداراز، د راپورونو سره سم طالبان له هیواد څخه بهر د نشه يي توکو د لیږد امنیت هم برابروي[66]. د راپورونو سره سم، د میتامفیتامینو د تولید په تړاو، طالبان د غور په ولایت کې د اومان/ومان د بوټي مالیه په ټاکلي نرخ په یو کیلو ګرام اخلي چیرته چې حاصل یې اخستل کیږي، مخکې لدې چې په موټرو کې بار شي او بکوا ولسوالۍ ته انتقال شي[67].

پر ملکي وګړو د پیښې د اغیزې د حقیقت موندنې له لارې ، یوناما د فراه او نیمروز ولایتونو په بکوا او دلارام ولسوالیو کې د هوايي برید له امله د ۸۰ ماشومانو او ۹ ښځو پشمول، د ۱۴۵ ملکي وګړو (۸۹ مړه ، ۵۲ ټپیان او ۴ ناپیژندل شوي) په اړه ځانګړې او تفصیلي معلومات ترلاسه کړی. د دې ادعا شوي ملکي تلفاتو څخه دیرش (د څلور ماشومانو په شمول چې عمرونه یې د ۱۵ تر ۱۷ پورې و) د نشه يي توکو د کارګرانو په توګه پیژندل شوي. یوناما اوس هم د ډیری دغو راپورونو د تایید په پروسه کې ده. د راپورونو له مخې، د ۱۴۵ وژل شویو یا ټپیان شویو اشخاصو له جملې څخه ، یوناما د ۳۹ ملکي تلفاتو (۳۰ وژل شوي او ۵ ټپیان او څلور نورو د وژل کیدو یا ټپي کیدو حالت لا هم معلوم نه دی) چې په دې کې ۱۴

---

[63] د ۲۰۱۹ کال د اګست په ۲۴ نیټه، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو د حقوقي مشاور او د یوناما ترمنځ د ایمیل له طریقه مراسلات، چې د یوناما په آرشیف کې شتون لري.

[64] ډیویډ مانسفیلډ ، د لندن د اقتصاد د پوهنځي لوړ پوړی فیلو چې په افغانستان کې د نشه يي توکو صنعت په اړه له دوه لسیزو څخه زیاتې څیړنې ترسره کړې ، امکان نلري چې اشخاص به په هماغه ودانۍ کې اوسیږي چېرته چې مخدره مواد پروسس کیږي (تلیفوني) مرکه ، د ۲۰۱۹ کال د اګست ۲۱). په هرصورت ، لکه څنګه چې مینسفیلډ او سوډرولم په ګوته کوي ، د بکواه د عبد الودود بازار ځینې هټیوال چې په ولسوالۍ کې یې د میتامفیتامین او هیرويینو لابراتوارونه په کار اچولي دي "نور ټول د هغه په بازار کې بند دي او اوس د دوی له کورونو څخه سوداګري کوي". دا چې د اومان نباتات او نور پریکرسرونه (precursor)ممکن د اوسیدو په کورونو کې ساتل شوي وي. مانسفیلډ او سوډر هولم ، "د میتامفیتامین تولید نوې څپې" (۳۹ لمنلیک وګورئ).

[65] همداراز د فارمر لیکنه "په افغانستان کې د میتامفیتمین په تولید د پام وړ زیاتوالې" وګورئ ( ۳۸ لمنلیک وګورئ) (" طالب یاغیان چې دمخه اټکل کیږي د تریاکو څخه په کال کې لسګونه ملیونه عاید ترلاسه کړي اوس مهال په لویدیځ افغانستان کې د جنايي ډلو څخه مالیه اخلي). همداراز، ډیویډ مانسفیلډ خبرې د مایک پاور دغه لیکنه کې ذکر شوي " د طالبانو د نشه يي توکو پر لابراتوارونو د متحده ایالاتو د غیرواقعي جنګ ترشا" وایس (د 2018 کال د سپتمبر ۱۸) ("ځو لابراتوارونه د طالب جنګیالیو شخصي ملکیت دی او د هغوی لخوا اداره کیږي؛ د دې پرځای دوی پر مالکینو مالیه وضع کوي. د مانسفیلډ په وینا، د طالبانو قوماندانان په خپله خاوره کې په لابراتوارونو کې تولید شوي "پودر" باندې ۶ ډالره پر هر یو کیلو ګرام مالیه اخلي، هغه توکي که هیروین وي، میتامفیتمین وي او که مورفین وي.)

[66] د هغه مصاحبو سره سم چې د ۲۰۱۹ کال په جون میاشت کې د یوناما لخوا په فراه ولایت کې ترسره شوي دي.

[67] د ډیویډ مانسفیلډ او الیکس سوډرولم په وینا ، افغان چارواکي هم "مالیه" اخلي ځکه چې د اومان حاصلات د نشه يي توکو لابراتوارونو ته لیږدول کیږي ، چې د نیمروز په دلارام ولسوالۍ په شمول په هره لارې کې له 100 ډالرو څخه تر 150 ډالرو پورې رسیږي. مانسفیلډ او سوډر هولم ، "د میتامفیتامین د تولید نوې څپې" (۳۹ لمنلیک وګورئ).

ماشومان او ۱ ښځه شامل دي ، تاييد کړي. يوناما جوته کړې چې د تاييد شويو ملکي مړو په منځ کې ، ۱۷ يې نارينه وو چې د مخدره توکو په لابراتوارونو کې يې کار کاوه.

يوناما د ۳۰ ماشومانو او ۲ ميرمنو په ګډون، لږ تر لږه ۳۷ نور ملکي تلفات (۳۰ مړه او ۷ ټپيان) د تصديق لپاره موثق او معتبر معلومات ترلاسه کړل. د دغو ملکي تلفاتو د لا تصديق لپاره د يوناما کار دوام لري. يوناما توانيدلې نده چې د نورو ۶۹ تنو د وژل کيدو يا ټپي کيدو په اړه معلوماتو تاييد او تثبيت کړي.

د مې په ۵ د بکوا ولسوالۍ د شاګ کلي په يوه پيښه کې ، ګڼ شمير موثقو او معتبرو سرچينو راپور ورکړ چې درې ماشومان هغه وخت ووژل شول کله چې د دوي کور د هوايي بريد له امله اغيزمن شو. وروسته له هغه چې يو هوايي بريد کور ته نږدې اصابت وکړ ، پلار يې د کورنۍ پر غړو غږ وکړ چې، له کوره وتښتي، مخکې له دې چې دويم بم په کور وغورځول شي. درې هلکان ، چې عمرونه يې د يو نيم څخه تر اوو کلونو پورې وو، و نه شواى کولاى چې په وخت وتيښتي. يوناما د يوه هلک مړينه ، او د يو بل هلک ټپي کيدنه تاييد کړې چې شاوخوا ۱۲ کلن وو څوک چې د ګاونډي په کور کې وو. يوناما د ورته پيښې په تړاو د ۴ څخه تر ۵ کلنۍ پورې د يوې نجلۍ او د يوه ۲ کلن هلک د ټپي کيدو په اړه ځانګړې معلومات ترلاسه کړي او يوناما د يادې قضيې د تاييد په لټه کې ده.

په ورته سيمه کې د يوې بلې پيښې په اړه ، ګڼ شمير موثقو او معتبرو سرچينو راپور ورکړ چې د ورته کورنۍ ۱۲ نور غړي هغه مهال مړه او ټپيان شول کله چې د دوی په کور هوايي بريد ترسره شو. يوناما د د ۵ ماشومانو په ګډون د ۷ ملکي وګړو مړينه او دوه ماشومانو په ګډون د دريو ملکيانو ټپی کيدل تاييد کړي . د ۲ ماشومانو په اړه ، يوناما تر دې دمه نه ده توانيدلې چې د هغوې اوسنی وضعيت معلوم کړي چې آيا ټپي شوي يا وژل شوي دي ځکه چې د سرچينو څخه معلومات په بيلابيلو وختونو کې ترلاسه شوی.

بکوا ولسوالۍ ته د ماموريت په جريان کې ، د حقايقو د موندلو ټيم د اغيزمن شوې ساحې څخه ليدنه وکړه چيرې چې د ګڼ شمير موثقو او معتبرو سرچينو په وينا ، په هوايي بريد کې ۵ ملکي تلفات (د ۲ ماشومانو په ګډون ۳ مړي او ۲ ټپيان) رامنځ ته شوي. د شاهدانو په وينا ، دوه هوايي بريدونه ترسره شوي وو. د راپورونو له مخې، لومړي بريد کور ته زيان ورساوه. يو څو دقيقې وروسته کله چې خلک د شاوخوا سيمې څخه راټول شول ترڅو وګوري چې څه پيښ شوي، يو بل هوايي بريد په ورته ځای کې ترسره شو، چې له امله يې ملکي خلکو ته تلفات واوښتل. د سيمې د مشرانو او د دې پيښې د قرباني سره د مرکې سربيره ، يوناما د سيمې څخه د ليدنې پرمهال د بريد اغيزه مستند کړې . يوناما پيښې پورې اړوند د ملکي تلفاتو د راپور شويو ۵ ملکي تلفاتو څخه ۴ (درې مړه او يو ټپي) تاييد کړي .

همدارنګه، يوناما د نيمروز ولايت په دلارام ولسوالۍ کې د نشه يي توکو په لابراتوار د هوايي بريد له امله د ۱۷ تنو وژل کيدل تاييد کړي. يو بل سړی چې د پيښې سيمې ته نږدې و، ټپي شوی دی.

د يوناما او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون لخوا مرکه شويو اشخاصو راپور ورکړی چې د بکوا ولسوالۍ د نشه يي توکو په لابراتوارونو کې ډيری کارګران د هلمند او غور ولايتونو په شمول د افغانستان له نورو ولايتونو څخه د کار موندلو او د مالي دلايلو په هدف چې د نشه يي توکو په صنعت کې ښکيل وو، راغلي وو . ګڼ شمير سرچينو راپور ورکړ چې د قانوني کارونو د نشتوالي له امله ، د بکوا په ولسوالۍ کې د ژوند کولو يوازينۍ حقيقي انتخاب په لابراتوارونو کې کار کول و، چې د راپورونو سره سم، ښځې شاوخوا د ۳۰۰ افغانيو / ۳.۸۰ امريکايي ډالرو او نارينه کارګران شاوخوا د ۶۰۰ افغانيو / ۷.۶۰ امريکايي ډالرو، ورځنې معاش عايد لاسته راوړي[68].

د بکوا ولسوالۍ مشرانو په خپله سيمه کې د نشه يي توکو د توليد د مرکزونو شتون رد نه کړ. دوی په خپله ټولنه کې د افرادو او کورنيو په رنځونو ټينګار وکړ، کومو چې ډيری يې د اقتصادي بقا لپاره د نشه يي توکو په کارخونو کې کار پيل کړی و. هغو په شخړه کې د ښکېلو خواوو پرځای، د مخدره توکو د لابراتوارونو مالکين په دې تورن کړل چې دوی يې په خطر کې اچولي.

بکوا ولسوالۍ ته د ماموريت څخه وروسته ، يوناما خپلې لومړنۍ موندنې د جون او جولای په مياشتو کې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځواکونو سره شريکې کړې او بيا د ملکي تلفاتو په اړه يې اړوند معلومات د يادو ځواکونو سره په څو ځل جلا وختونو کې شريک کړل کله چې يوناما د سپتمبر تر مياشتې پورې د تاييد پروسې پرمخ وړه . په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو په خپل دريځ ټينګار کاوه، هغه دا چې د مې په ۵ مه عملياتو کې هيڅ ډول ملکي تلفات رامنځ ته شوي نه و او په نښه شويو ودانيو يا د هغو په شاوخوا کې کومې ميرمنې او ماشوم نه وو؛ په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو

---

[68] د ډيويډ مانسفيلډ په وينا (د ماخذ لپاره ۶۴ لمنليک وګورئ)، په ځانګړې توګه په هغه سيمه کې، ددې احتمال شتون نلري چې ميرمنې به د نشه يي توکو په لابراتوارونو کې په کار کولو کې برخه درلوده، پرځای يې ، هغه ښځې ممکن د لابراتوار کارمندانو لپاره د خوړو چمتو کولو يا نورو کارونو په موخه په نږدې مکان کې، ګمارل شوي وي ( ټليفوني مرکه ، ۲۰۱۹ کال د اګست۲۱ نيټه).

په وينا ، په لابراتوارونو کې ټول کارکونکي پرسونل سري وو[69]. په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو په وينا ، د صفر ملکي تلفاتو اصلي ارزونه د "امنيتي ځانګې د ځوابونو، او له بريد څخه وروسته د ازادو سرچيوې راپور ورکولو ، او د ملکي تلفاتو د تحقيقاتو پر اساس وه[70]. يادو ځواکو وويل چې " د امنيت ځانګې اقدامات يا د آزادې سرچينې په راپور د ملکي تلفاتو په اړه کومه ادعا نه ده شوې ". خو يادو ځواکونو زياته کړه چې "د عملياتو د متحرک نوعيت او د يوناما د ادعا پراساس ، شوني ده چې هلته ملکي تلفات را منځ ته شوي وي. حتی د بريد څخه دمخه د ژوند د ارزونې د پراخې نمونې په پام کی نيولو سره چې موخه د ملکي تلفاتو کمول دي، خو بيا هم، ددې امکان شته چې ملکي تلفات را منځ ته شي."[71]

## حقوقي چوکاټ

په افغانستان کې وضعيت د افغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوالو نظامي ځواکونو ترمنځ د يو شمير غير بين المللي وسله والو شخړو لخوا مشخص شوی دی چې د افغانستان د حکومت ملاتړ کوي او د غير دولتي وسله والو مخالفينو ډلو او همدارنګه د غير دولتي وسله والو مخالفو ډلو ترمنځ، رواني دي.

د جنيوا په کنوانسيونونو کې دريمه ګډه ماده، په يوه غير نړيواله وسله واله شخړه کې، لږترلږه معيارونه رامنځ ته کړي، چې د جګړې اړخونه ورته بايد درناوی وکړي. سربېره پردې، چيرې چې د تطبيق وړ وي ، د ۱۹۷۷ دويم الحاقي پروتوکول حکمونه، چې افغانستان يې غړيتوب لري، هم د حاکم قانوني چوکاټ برخه جوړوي. متحده ايالاتو الحاقي دويم پروتوکول لاسليک کړی، مګر لا تصويب کړې يې نه ده[72]. د داخلي ياکورنۍ وسله والو نښتو په اړه د عرفي نړيوال قانون قواعد هم د پلي کيدو وړ دي او د رسمي رعايت د اړتيا پرته په ټولو هيوادونه باندې الزامي دي. هغه عرفي قواعد چې د دولتونو او وسله والو مخالفينو ډلو ترمنځ وسله والې شخړې تنظيموي، که دولت وي يا وسله واله مخالفه ډله،د شخړې په ټولو خواو باندې پلي کيږي.

د نړيوال بشردوستانه قانون سره سم ، په شخړه کې ښکيل اړخونه مکلف دي چې، د پوځي عملياتو د پلانولو پشمول، په جګړه کې د نښتو په مهال د توپير، احتياط او تناسب اصولو ته درناوی وکړي. د نړيوال بشردوستانه قانون سربيره ، د بشري حقونو نړيوال قانون هم د قانوني چوکاټ يوه برخه جوړوي. لکه څنګه چې ټول دولتونه بايد په خپله خاوره کې دننه اشخاصو يا هغه اشخاصو ته چې د دوی د قضايي صلاحيت تابع وي، د بشري حقونو د نړيوال قانون له مخې خپلو مکلفيتونو ته درناوی ولري. سربېره پردې، غيردولتي فعالين چې په يوه خاوره کې اغيزمن کنټرول لري او د حکومت په شان دندی ترسره کوي بايد د بشري حقونو نورمونو ته درناوی ولري.

د ملکي وګړو يا ملکي شيانو پر وړاندې مستقيم بريدونه د نړيوال بشر دوستانه قانون لخوا منع شوي دي او کيدای شي جنګي جرمونه وګڼل شي[73]. د توپير اصل وايي چې د شخړې خواوې بايد هر وخت د ملکي وګړو او جنګياليو تر منځ توپير وکړي. د بريدونو موخه بايد يوازې جنګيالي او نظامي اهداف وي او بايد ملکي وګړي يا ملکي شيان په نښه نشي[74]. سربيره پردې ، په وسله والو جګړو کې ماشومان د ځانګړي درناوي او ساتنې مستحق دي[75].

ملکي وګړي د بريد څخه د ساتنې حق لري، مګر دا چې او هغه مهال چې دوی په مستقيم ډول په دښمنيو کې برخه اخلي[76]. دولتي کړنې، دا د نړيوال عرفي قانون د يوه نورم په توګه رامنځ ته کوي چې په دواړو نړيوالو او غير بين المللي وسله والو

[69] د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۲۴ نېټه، په افغانستان کې د متحده ايالاتو ميشت ځواکونو او يوناما ترمنځ د ايميل له طريقه مراسلات، چې د يوناما په آرشيف کې شتون لري.

[70] د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۱۳ نېټه، په افغانستان کې د متحده ايالاتو ميشت ځواکونو او يوناما ترمنځ د ايميل له طريقه مراسلات، چې د يوناما په آرشيف کې شتون لري.

[71] هماغه ماخذ .

[72] مګر، متحده ايالات د نړيوال عرفي قانون نورمونو په رعايت مکلف دي ، کوم چې د اضافي دويم پروتوکول په مادو کې منعکس شوي.

[73] د نړيوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي مطالعه، ۱ او ۷ قاعدې; د نړيوالې جزايي محکمې اساسنامه، ۸ قاعده، ۲ فقره (e) او (i) اجزاء.

[74] د ۱۹۷۷ کال د جنيوا کنوانسيونونو په اړه دويم اضافي پروتوکول، ۱۳ ماده و ۲ فقره; د نړيوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي مطالعه، ۱ او ۷ قاعدې.

[75] د ۱۹۷۷ کال د جنيوا کنوانسيونونو په اړه دويم اضافي پروتوکول، ۱۳ ماده ، ۲ فقره; د نړيوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي مطالعه، ۱۳۵ قاعده.

[76] د نړيوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي مطالعه، ۶ قاعده.

شخړو کې د تطبيق وړ دي[77]. افراد هغه وخت په مستقيم ډول په دښمنۍ کې ښکېل ګڼل کيږي کله چې دوی د يوی خوا په ملاتړ خصمانه کړنې ترسره کوي چې په ترڅ کې يې بلې خوا ته مستقيم زيان رسوي. دا ډول اعمال بايد د دښمن په نظامي عملياتو يا نظامي ظرفيت باندې منفي اغېزه وکړي. د شک په حالتونو کې ، ياد شخص بايد د مستقيم بريد په وړاندې خوندي وساتل شي.[78]

هغه بريدونه چې تمه کيدای شي له امله يې ملکي وګړو ته په تصادفي ډول مرګ ژوبله اوښتی وي، کوم چې د اټکل وړ واقعي او نظامي ګټی له حد څخه زيات وي، د نړيوال بشر دوستانه قانون لخوا منع شوي دي او ممکن جنګي جرمونه وګڼل شي[79]. د شخړې هر اړخ بايد د جنګ د وسيلو او ميتودونو په انتخاب کې ټول ممکنه احتياطي تدابير په پام کې ونيسي، ترڅو ملکيانو ته د تصادفي مرګ ژوبلې د اووښتو او ملکي شيانو ته د زيان رسولو مخه ونيسي او په هر حالت کې د هغوی کچه راکمه کړي.[80]

## د هوايي بريدونو قانوني والی کوم چې د نشه يي توکو لابراتوارونه په نښه کوي

د نړيوال بشر دوستانه قانون سره سم ، هغه شيان چې د يوه اړخ د شخړې په هڅو کې اقتصادي يا مالي مرسته کوي ممکن په قانوني ډول د دې بريد هدف ونه ګرځول شي، ځکه چې ياد شيان د نړيوال بشر دوستانه قانون له مخې د نظامي هدف تعريف نه پوره کوي.

نړيوال بشردوستانه قانون صراحت لري چې نظامي اهداف په "هغو شيانو پورې محدود دي کوم چې د دوی د ماهيت، موقعيت ، مقصد يا کارونې، په نظامي اقدام کې مؤثره مرسته کوي او کوم چې د هغه بشپړ يا جزيې ويجاړتيا ، نيول يا شنډول، په هغو شرايطو کې چې په هماغه وخت کی حاکم دی، يو قطعي نظامی مزيت منځ ته راوړي[81]. "ياد تعريف ايجابوي چې هغه مزيت چې لاس ته راوړل کيږي، بايد يو پوځي مزيت وي، نه اقتصادي يا مالي مزيت. او هغه هم بايد ملموس وي. يو شي چې له مالی پلوه د يوی متخاصمی ډلې سره مرسته کوي، د شخړې سره د ناکافي اړيکو څخه استازيتوب کوي، ترڅو د مشروع نظامي هدف په توګه وګڼل شي. که څه هم، اقتصادي ملاتړ ممکن د جګړې عمومي هڅې لپاره اړينې وي، خو ذاتاً غير مستقيم ماهيت لري او د جګړې لازمي يا نه نه بيليدونکې برخه نه جوړوي.

متحده ايالاتو له اوږدې مودې راهيسې خپل موقف ساتلی، هغه دا چې اقتصادي شيان چې د "جنګ ملاتړ کونکي" يا "د جنګ د دوام ورکونکو" صنعتونو سره مرسته کوي، مشروع نظامي هدفونه دي[82]. د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د جنګ د قانون د لارښود په کتاب کې راغلي چې ددې امکان شته چې "په جنګ کې ضرورتاً اړتيا پيدا شي چې د دښمن ملکيت ضبط يا له منځه يووړل شي ترڅو د عملياتو د ترسره کولو يا ساتلو لپاره د دښمن وړتيا محدوده کړي[83]". د نشه يي توکو د لابراتوارونو او مخدره توکو پروړاندې د آيساف مخکيني عمليات د ورته عملياتو يوه بيلګه بلل کيږي[84].

په افغانستان کې د متحد ايالاتو د ميشتو ځواکونو په وينا ، او د متحده ايالاتو د پالیسۍ سره سم ، د مې په ۵ هوايي بريدونه د ميتامفتامين لابراتوارونه په نښه کړل شوې چې "په مستقيم ډول د طالبانو د جنګي هڅو د تمويل لپاره کارول کيدل[85]."

---

[77] هماغه ماخذ

[78] هماغه ماخذ

[79] د نړيوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي بررسی، ۱۴ او ۱۵۶ قاعدې

[80] د نړيوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي د بررسي ۱۵ قاعده او د جنيوا کنوانسيونونو په اړه د ۱۹۴۹ د اګسټ ۱۲ نيټې دويم اضافي پروتوکول، ۱۲ ماده او په غير بين المللی وسله واله شخړو کې د قربانيانو د ساتنې په اړه د ۱۹۷۷ کال د جون د ۸ نيټې دوم پروتوکول، وګورئ.

[81] د جنيوا کنوانسيونونو لپاره د 1977 لومړي الحاقي پروتوکول د ۵۲ مادې ۱ فقره. دولتي کړنې د نظامي اهدافو ورته تعريف په نړيوال عرفي قانون کې وړاندوينه ، چې په دواړو نړيوالو او غير بين المللي وسله والو شخړو کې د تطبيق وړ دی. د نړيوال بشردوستانه عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي مطالعه، ۸ قاعده وګورئ.

[82] په افغانستان کې د متحده ايالاتو ميشت ځواکونه " د يوناما اعتراضونو په اړه ځوابونه" ( ۷ لمنليک وګورئ); همدا راز، د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د جنګ قانون لارښود وګورئ، ۲۱۴ صفحه: " که څه هم لکه د جنګ کول ، "جنګ ملاتړ کونکي ،" او "جنګ دوام" په نوم اصطلاحات په ټرون کې د نظامي شيانو په تعريف کې په ښکاره ډول نه دي منعکس شوي ، متحده ايالاتو نظامي اهداف په داسې ډول تفسير کړي چه ياد مفهومونه په کې شامل کړي. "

[83] د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د جنګ قانون په اړه لارښود کتاب، صفحې ۲۸۷-۲۸۸

[84] هماغه ماخذ

[85] په افغانستان کې د متحده ايالاتو ميشت ځواکونه " د يوناما اعتراضونو په اړه ځوابونه" ( ۷ لمنليک وګورئ);

نړيوال بشر دوستانه قانون د هغه دريځ ملاتړ نه کوي په کوم کې چې د "جنګ دوام ورکونکي" صنعتونو د مشروع نظامي اهدافو په توګه ګڼل کيږي. په ځانګړي توګه، ياد دريځ د تفکيک له اصل سره مطابقت نه لري، کوم چې د جنګي عملياتو د ترسره کولو يو بنيادی اصل بلل کيږي او په نهايت کې دغه اصل کمزوری کيږی کله چې په اقتصادي او مالي زيربناوو باندې د پام وړ بريدونو پروړاندې د محافظت څخه انکار کوي چې په سيمه کې موقعيت لري يا د شخړې د يوه اړخ تر کنټرول لاندې په قلمرو کې وي.

## د هوايي بريدونو مشروعيت کوم چې د نشه يي توکو لابراتوارونه په نښه کوي

نړيوال بشردوستانه قانون د ملکي خلکو پروړاندې مستقيم بريدونه منع کوي. د توپير د اصل د مقصد سره سم ، ملکي وګړي د هغو اشخاصو په توګه تعريف شوي کوم چې د وسله والو ځواکونو يا منظم وسله وال ډلو غړي نه دي. د داخلي وسله والې شخړې په مورد کې ، د "منظم وسله والې ډلې" اصطلاح منحصرا د غير دولتي اړخ، وسله والې يا نظامي ځانګې ته ويل کيږي او نورو فعاليتونو او د ملاتړ ډولونو ته دغه اصطلاح نه کارول کيږي[86]. د نړيوال بشر دوستانه قانون په رڼا کې په شخړو کې د مستقيم مشارکت د مفهوم په اړه د سره صليب نړيوالې کميټې د تفسيری لارښود سره سم، چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو يو شمير ميکانيزمونه او نظارت کولو ماموريتونه تعقيبوي ، "په سازمان يافته وسله واله ډله کې د فرد غړيتوب لپاره پريکړه کونکې معيار دا دی چې ايا يو څوک د هغې ډلې لپاره دوامداره فعاليت په غاړه اخلي چې په شخړو کې د هغه مستقيم ګډون پکې شامل وي".[87] هغه افراد چې د وسله والې مخالفې ډلې سياسي ، مالي يا بل ډول ملاتړ کوي، خو، په سازمان يافته وسله واله ډله کې دوامداره جنګي فعاليت نه لري ، نو له همدې امله د وسله والې ډلې غړي نه ګڼل کيږي. د ملکي وګړو په توګه د بريد څخه خوندي دي ، مګر دا چې تر هغه وخته پورې  چې هغوی په مستقيم ډول  په جګړو کې برخه واخلي[88].

ددې لپاره چې د يوه فرد رفتار د هغه مستقيم مشارکت په شخړه کې وګڼل شي، چې له امله يې هغه فرد د بريد پر وړاندې خپل محافظت شوې حالت له لاسه ورکړې، بايد د بحث لاندې رفتار او د زيانونو ترمنځ مستقيمه اړيکه شتون ولري؛ هغه رفتارونه بايد د جنګي عملياتو لازمي برخه وي[89]. دا شرط غير مستقيم عملونه مستثنی کوي کوم چې ممکن د جنګي ډلې د عمومي جنګ په هڅو کې مرسته وکړي ، مګر مستقيم زيان نه رسوي. د مثال په توګه، پدې کې د شخړې د يوه اړخ لپاره مالي يا سياسي ملاتړ شامل وي[90]. د شک په صورت کې ، افراد بايد ملکي وګڼل شي او د بريد څخه خوندي وساتل شي[91].

د نشه يي توکو د توليد يا پروسس عمل او د هغه څخه لاسته راوړل شوي عوايد ، چې ممکن په شخړه کې د يوه اړخ د جنګ د هڅو د تمويل لپاره وکارول شي، په شخړه کې د هغه اړخ نظامي ورتيا باندې غير مستقيم اغيزه لري.

يوناما يادونه کوي چې په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ځواکونو په وينا ، "هر اړخيز استخباراتي معلومات تاييد کړې چې په لابراتوارونو کې ټول پرسونل طالب جنګيالي وو."[92] مګر، په افغانستان کې د متحده ايالاتونو ځواکونو  هم اشاره وکړه چې د دې معنی دا نده چې هغه افراد د عملياتو په وخت کې جنګي فعاليت ترسره کاوه[93].

په افغانستان کې د متحده ايالاتونو ځواکونو څرګنده کړه چې امريکا د غير دولتي منظم وسله والې ډلې "له دښمنې ډک نيت" د هغې ډلې ټولو غړو ته منسوبوي، پرته لدې چې هغه غړې محاربوي فعاليت ترسره کوي او که نه. په افغانستان کې د متحده اياڵاتونو ځواکونو په لابراتوارونو کې موجود ټول پرسونل د دوی د ادعا شوي غړيتوب پر اساس د په نښه کولو وړ بلل. په افغانستان کې د متحده ايالاتونو د ځواکونو په وينا ، قراين چې ښيي چې يو څوک د غير دولتي منظم وسله والې ډلې غړی دی، عبارت دي له: "د ډلې د مشرانو لخوا دورکړل شوي لارښووڼې تعقيبول، د ډلې په استازيتوب دندې ترسره

---

[86] د سره صليب نړيواله کميټې ، د نړيوال بشر دوستانه قانون سره سم، په جګړه کې د مستقيمې برخې اخيستنې د مفهوم په هکله تفسيري لارښود، مي ۲۰۰۹، ۳۲ صفحه.
[87] هماغه ماخذ، ۳۳-۳۵ صفحې.
[88] د نړيوال بشر دوستانه عرفي قانون په اړه د سره صليب نړيوالې کميټې بررسی، ۶ قاعده
[89] هماغه ماخذ، ۵۱-۵۲ صفحې.
[90] هماغه ماخذ
[91] د نړيوال بشر دوستانه عرفي قانون په اړه د سره صليب نړيوالې کميټې بررسی، ۶ قاعده
[92] په افغانستان کې د متحده ايالاتو ميشت ځواکونه " د يوناما اعتراضونو په اړه ځوابونه" ( ۷ لمنليک وګورئ).
[93] د ۲۰۱۹ کال د اګوسټ په ۲۰ نېټه، په افغانستان کې د متحده ايالاتونو د ميشتو ځواکونو حقوقي مشاور سره د ايميل له طريقه مراسلات، چې د يوناما په ارشيف کې شتون لري.

کول، محاربوی ملاتړ، يا د محاربوی فعاليتونو په ملاتړ د خدمتونو ترسره کول"[94]. په افغانستان کې د متحده ايالاتونو خواکونه اړينه نه بولي ترڅو ثابته کړي چې اشخاص په مستقيم ډول په دښمنۍ کې دخيل دي ترڅو د مشروع اهدافو په توګه وګڼل شي ، او نه د متحده ايالاتو د پاليسۍ په اساس، هغه اشخاص محاربوی فعاليت ته اړتيا لري ترڅو د په نښه کولو جوګه شي[95].

نړيوال بشر دوستانه قانون د هغه دريځ ملاتړ نه کوي، کوم چې د سازمان يافته وسله والې ډلې غړي يوازې د هغو فعاليتونو ښکېلتيا چې د وسله والې ډلې د لاربښوونې د تعقيب پشمول، د وسله والې ډلې د جګړې عمومي هڅو ملاتړ کوي، هغه د يادې وسله والې ډلې غړي وبلل شي[96]. دا ډول اشخاص ملکي وګڼل دي چې د برید څخه بايد خوندي پاتې شي. هر بل ډول تفسير به د ملکي او جنګياليو ترمنځ د توپير اصل له منځه يوسي، کوم چې د نړيوال بشر دوستانه قانون د اساسی اصولو څخه ګڼل کيږي او په افغانستان او د افغانستان څخه په بهر کې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره مهم دې.

## پايله

د حقيقت موندنې او حقوقي شننې پر بنسټ، يوناما او د بشري حقونو د عالي کميشنر دفتر معلومه کړې چې دواړه سيمې او اشخاص چې په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ځواکونو په هوايي بريدونو کې د ۲۰۱۹ کال د مۍ پر ۵ د فراه ولايت په بکوا ولسوالۍ کې او د نيمروز ولايت په دلارام ولسوالۍ کې په نښه شوي وو، ملکي وو،او ځکه بايد له بريد څخه خوندي او ژغورل شوي وای.

يوناما د هغه لوړې کچې زيان په اړه خورا اندېښمنه ده چې د ۲۰۱۹ کال د مۍ پر ،۵ په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ميشتو ځواکونو د هوايي بريدونو په پايله کې په بکوا ولسوالۍ کې د نشه يي توکو په لابراتوارونو کې کارګرانو، د هغوي کورنيو او د لابراتوارونو په شاوخوا سيمه کې د خلکو په ګډون، ولسي وګړو ته اوښتی.

يوناما پر دې و نه توانيده چې په افغانستان کې د متحده ايالتونو ځواکونو هغه دريځ تاييد کړي چې هوايي بريدونو له خوا په نښه شوي ځايونه په قانوني ډول مشروع نظامي هدفونه ګڼل کيده. يوناما موندلې چې هغه ملکي جوړښتونه چې د ادعاوو له مخې د نشه يي توکو د لابراتوارونو په څير کارېدل او د هوايي بريدونو له خوا په نښه شوي، د طالبانو له جګړه ييزو عملياتو سره کافي تړاو نه درلود څو د نظامي اهدافو په څير د هغوي ډلبندي کول توجيه کړي. د نشه يي توکو د لابراتوارونو په نښه کول په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ځواکونو لپاره يقيني نظامي لاس ته راوړنې نه برابروي، د اوښتي زيان زياتره مالي ماهيت درلود. سر بيره پر دې، داسې نه ښکاريده چې د هستوګنيزو کورونو په ګډون، ځينې په نښه شوي جوړښتونه دې د نشه يي توکو د پروسس کولو له فعاليتونو سره کوم تړاو ولري.

د هغو اشخاصو ملکي وضعيت په اړه چې د مۍ د ۵ نېټې د هوايي بريدونو له امله اغيزمن شوي کومه پوښتنه شتون نه لري. د هغو معلوماتو پر بنسټ چې د يوناما له خوا راغونډ شوي، هغو کارمندانو چې په لابراتوارونو کې يې کار کاوه کومې جګړه ييزې چارې نه ترسره کولې، او له همدې امله له بريد څخه د خونديتوب وړ وو؛[97] د نا قانونه نشه يي توکو په فعاليت کې ګډون په خصومتونو کې د مستقيمه ښکيلتيا نه ګڼل کيږي. سربيره پر دې، يوناما موندلې، دا چې په بريدونو کې

[94] د ۲۰۱۹ کال د اګوسټ په ۲۰ نېټه، په افغانستان کې د متحده ايالاتونو د ميشتو ځواکونو حقوقي مشاور سره د ايميل له طريقه مراسلات، چې د يوناما په ارشيف کې شتون لري; دغه اقدامات هغه علايم منعکس کوِي کوم چې د امريکا د دفاع وزارت د جنګ قانون په لاربښود کتاب کې درج شوي او هغو افرادو ته اشاره کوي چې د متحده ايالاتو لخوا په وظيفوی لحاظ يا ماهوی لحاظ د "غير فعال وسله والې ډلې" برخه ګڼي ، که څه هم په رسمي ډول د يادی ډلې غړيتوب هم نه لري. . ۵.۷.۳.۱ برخه وګورئ.

[95] د ۲۰۱۹ کال د اګوسټ په ۲۰ نېټه، په افغانستان کې د متحده ايالاتونو د ميشتو ځواکونو حقوقي مشاور سره د ايميل له طريقه مراسلات، چې د يوناما په ارشيف کې شتون لري; د امريکا د دفاع وزارت د جنګ قانون په لاربښود کتاب، ۵.۷.۱ برخه ("("فرد ، د ډلې د مامور په توګه ، هر وخت ورته جنګي نقش ورکړل کيدی شي، حتی که فرد په عادي ډول د ډلې لپاره نورې دندې ترسره کوي.")

[96] ، د نړيوال بشر دوستانه قانون سره سم، په شخړو کې د مستقيمې برخې اخيستنې د مفهوم په هکله د سره صليب د نړيوالې کميټې تفسيري لاربښود، ۳۲ صفحه، چې د ۲۰۰۹ د مي په مياشت کی چاپ شوې، وګورئ "په هرصورت ، د سازمان يافته وسله والې ډلې اصطلاح په ځانګړې توګه د غير دولتي اړخ وسله وال يا نظامي ځانګې ته اشاره کوي: يعنی د هغې ډلې وسله وال ځواکونه. دغه توپير په سازمان يافته وسله واله ډله کې د غړيتوب تعيينولو لپاره مهمې پايلې، په تيره بيا په جګړه کې د غير دولتي اړخ سره د نورو ډولونو اړيکی يا ملاتړ به پرتلې سره. د توپير اصل د عملي اهدافو سره سم ، له همدې امله ، په داسې ډلو کې غړيتوب نشي کولی په ناڅرګنده تړاو ، کورنۍ اړيکو ، يا نورو معيارونو پورې اړه ولري چې د غلطۍ ، خود سرې يا ناوړه ګټه اخيستنې په معرض کی واقع شي. پرځای يې ، غړيتوب بايد پدې پورې اړه ولري چې ايا دوامداره فعاليت د فرد لخوا د هغه فعاليت سره چې په ګډه د ډلې لخوا ت ترسره کيږی، سمون لري او که نه ، د بيلګې په توګه د شخړې لپاره د غير دولتي اړخ په استازيتوب محاربوی فعاليتونه ترسره کړی. په پايله کې ، د [نړيوال بشردوستانه قانون] سره سم ، په سازمان يافته وسله واله ډله کې د فرد غړيتوب لپاره قاطع معيارونه دا دي چې ايا يو څوک د هغې ډلې لپاره دوامداره دنده په غاړه لري چې په محاربوی فعاليتونو کې د هغې مستقيم ګډون پکې شامل وي او که نه . "

[97] د آی سی آر سي د بشرپالنې د نړيوال عرفي قانون څېړنه، ۶ قاعده.

ځينو وړل شويو يا ژوبل شويو ملکيانو د نشه يي توکو په لابراتوارونو کې کار ترسره کاوه، د ښځو او ماشومانو په ګډون نور يې په دغو لابراتوارونو کې کار نه کاوه.

د مې د ۵ عملیاتو تر اغيزې هاخوا، يوناما د هغو شيانو د په نښه کولو په اړه چې د جګړې له دوام سره مرسته کوي د امريکا د متحده ايالتونو د دريځ د پراخو ممکنه اغيزو په اړه سخته اندېښمنه ده. که داسې وانګيرل شي چې شيان د دوښمنانو له جګړه ييزو هڅو سره د هغوي د مالي ملاتړ پر بنسټ د بريد په وړاندې هم خپل خونديتوب له لاسه ورکوي، نو دا د تفکيک له بنسټيز اصل څخه سرغړونه ګڼل کيږي چې پراخ ملکي زيربناوې له ګواښ سره مخ کوي. په ورته ډول، هغه اشخاص چې نه په دوامدار ډول د وسله والو ډلو لپاره په جګړه ييزو چارو کې ګډون کوي، نه په مستقيم ډول په جګړو کې ګډون کوي، له مخالفو وسله والو ډلو سره د تړاو د انګيرنې پر بنسټ نه شي په نښه کيدای. دغه ډول دريځ ښايي د ولسي وګړو د يوې مهمې برخې لپاره د خونديتوب له لاسه ورکول وشميرل شي.

د افغانستان وګړو او په پراخه کچه سيمې ته د ناقانونه نشه يي توکو د صنعت په تيره بيا هغه زياتيدونکې ګواښ چې د ميتامفتامين د صنعت له امله اړول شوي خورا زيات زيان د ناوړه روغتيايي، چاپيرياليي او ټولنيزو اغيزو په ګډون، په ښه ډول مستند شوی. خو له دې سره سره، د نشه يي توکو ناقانونه فعاليت ته مناسب او قانوني ځواب د نظامي عملياتو پر ځای د قانون د انفاذ له لارې دی. يوناما د دې يادونه کوي چې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پريکړه ليکونه د عايداتو رامنځ ته کوونکو شيانو د نظامي هدف ګرځونې پر ځای د سوداګرۍ د مخنيوي او شتمنۍ د کنګل کولو له لارې د نشه يي توکو ناقانونه صنعت ته رسيدګي کوي.[98]

يوناما په ډاګه کوي چې د نشه يي توکو تر نړيوالو کنوانسيونونو،[99] او دغه راز د نشه يي توکو د ستونزې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ديرشمې ځانګړې ناستې په پايله کې تر رامنځ ته شوي سند لاندې، د ملګرو ملتونو ټولو غړي هيوادونه په موثر ډول د نشه يي توکو اړوند جرمونو مخنيوي او د قانون د تنفيذ اقداماتو ته ژمن دي.[100] غړي هيوادونه دغه راز د نشه يي توکو د پاليسي ګانو په طرح او تطبيق کې ټولو بشري حقونو او بنسټيزو ازادي ګانو او د قانون واکمنۍ ته درناوي، ساتنې او ترويج ته ژمن دي.[101] په يوه راپور کې چې د ۲۰۱۸ کال په سپتمبر کې د بشري حقونو شورا ته وسپارل شو، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنر "د نشه يي توکو اړوند جرمونو سره د مبارزې لپاره د دولتونو له خوا د غبرګونونو د ژور نظامي کيدو په لور ځينې هېښوونکي ميلانونه" ملاحظه کړي. هغه زياتوي چې "د خورا زيات ځواک کارونې رامنځ ته کيدل هغه وخت شوني دي کله چې له نشه يي توکو سره د مبارزې په عملياتو کې نظامي يا ځانګړي امنيتي ځواکونه ښکيل وي" او دا چې "دغه ډول تګلارې په نامتناسب ډول زيانمنيدونکې ډلې اغيزمنې کوي او په مکرر ډول د بشري حقونو د جدي سرغړونو لامل شوي."[102]

يوناما د طالبانو تر ولکې لاندې يا هغو سيمو کې چې د طالبانو تر پام وړ نفوذ لاندې دي د قانون د تنفيذ د عملياتو په ترسره کولو کې نغښتې ننګونې مني. دا همدارنګه د دې يادونه کوي چې دغه ډول عمليات پخوا او اوس هم له نشه يي توکو سره د مبارزې د پوليسو له خوا ترسره کيږي، چې په ضبطونو، نيونو او قضايي اجراآتو تماميږي. [103]

---

[98] د مثال په ډول، د امنيت شورا ۲۲۵۵ (۲۰۱۵) پريکړه ليک، ۱-۱۶ پاراګرافونه وګورئ.

[99] د نشه يي توکو په اړه د ۱۹۶۱ کال يوازيني کنوانسيون، چې د ۱۹۷۲ کال د پروتوکول (UNTS, vol. 1019, No. 14956) له لارې تعديل شوی؛ د روان ګردانو توکو په اړه د (۱۹۷۱) پروتوکول؛ او د ۱۹۸۸ کال د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو د ناقانونه قاچاق او روان ګردانو توکو د منع کنوانسيون (UNTS, vol. 1582, No. 27627).

[100] *د نشه يي توکو د نړيوالې ستونزې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ۲۰۱۶ کال د ځانګړې ناستې په پايله کې رامنځ ته شوی سند،* ديرشمه ځانګړې ناسته (۱۹-۲۱ اپريل ۲۰۱۶)، ۱۰ او ۱۷ پراګرافونه. سريره پر دې، په نوموړي سند کې د دې ژمنه شامله ده چې د "قانون نافذوونکو ادارو د ظرفيت غښتلي کول شامل دي د نوي روانګرداني توکي او ميتامفتامن په ګډون امفتامين ډوله تحريکوونکي توکي کشف او په ګوته کړي" (۱۸ مخ).

[101] همدا ماخذ، ۱۴ مخ.

[102] A/HRC/39/39 ۲۷ پاراګراف.

[103] د مثال په ډول، د افغانستان د کورنيو چارو، "له نشه يي توکو سره د مبارزې د عملياتو افغان ځانګړي پوليس په ننګرهار ولايت کې د هيروينو لابراتوارونه له منځه يوړل" (۲۶ جنوري ۲۰۱۹)، چې پر دغې انټرنيټ پاڼې د لاس رسي وړ ده: https://moi.gov.af/en/afghan-counter-narcotics-special-operation-police-destroy-heroin-labs-nangarhar-province (په وروستي ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۲۳ کتل شوې)؛ او "له نشه يي توکو سره د مبارزې افغان پوليسو په ننګرهار کې ۱۷۰ کيلو ګرامه نا قانونه نشه يي توکي نيولي" (۲۳ جولای ۲۰۱۹) چې پر دغې انټرنيټ پاڼې د لاس رسي وړ ده: https://moi.gov.af/en/cnpa-seized-170kg-illicit-drugs-nangarhar(په وروستي ځل د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۲۳ کتل شوې).

## سپارښتنې

د يوناما د موندنو او د نشه يي توکو او کارکوونکو د لابراتوارونو د ملکي وضعيت د ارزونې په رڼا کې او دغه راز د ملکي زيان د هغه کچې چې د ۲۰۱۹ کال د مۍ مياشتې په هوايي بريدونو کې د فراه ولايت په بکوا ولسوالۍ او د نيمروز ولايت په دلارام ولسوالۍ کې رامنځ ته شوی، او له لابراتوارونه هاخوا تيريږي، يوناما په افغانستان کې د متحده ايالتونو له ځواکونو غوښتنه کوي چې:

- خپلواکې او رڼې څېړنې ترسره کړئ چې پر ولسي وګړو د مۍ د ۵ نېټې د عملياتو اغېزې و ارزوئ او موندنې او ترسره شوي اقدامات يې په ډاګه کړئ څو د قربانيانو او د هغوي د کورنيو غړو ته د برابر شويو مناسبو جبرانونو په ګډون احتساب ډاډمن کړي؛
- هغه هوايي بريدونه او نور نظامي عمليات ودروئ چې د نشه يي توکو د توليد مرکزونه او په هغوي پورې تړلي کارګر په نښه کوي؛
- "جګړې ته د دوام ورکوونکو" فعاليتونو سره د تړلو شيانو او اشخاصو د په نښه کولو پاليسي ګانې بيا وګورئ، څو ډاډمن شي چې هغه د بشرپالنې له نړيوال قانون سره په سمون کې دي؛
- د نشه يي توکو ناقانونه فعاليت ته د قانون د تنفيذ د غبرګونونو موثريت د زياتولو د يوې وسيلې په توګه د معلوماتو تبادله غښتلې کړي او څرنګه چې مناسب وي په نشه يي توکو پورې د اړوندو جرمونو په اړه استخباراتي معلومات د افغانستان د قانون نافذوونکو ادارو سره تبادله کړي؛ او
- له افغان دولت سره کار وکړئ څو يقيني کړي چې د افغان قانون نافذوونکو ادارو لپاره بسيا سرچينې ځانګړې شوي څو د هغوي وړتيا غښتلې کړي چې له نشه يي توکو سره د مبارزې عمليات په لا موثر ډول ترسره کړي.

## ضمیمه ۱: له هوايي بريدونو څخه د متاثره شوې سيمې عمومي نقشه




Sources: OHCHR / UNAMA

The boundaries and names shown and the designations used on this map do not imply official endorsement or acceptance by the United Nations.